Ketabton.com

غانستان د کلتوري وډې ټولنې

ريمي کليزې په ويار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماتستوري

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

نصرالله «حافظ»

۱۳۷۸ لمریز

فروشگاه کتاب الازهر
مؤسسه نشر و پخش کتب فارسی
دهکی نعلبندی بازار قصه خوانی
پشاور پاکستان- تلفن :2564414
E-mail: alazhar@psh.paknet.com.pk

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب پېژندنه

نوم : مات ستوري.

شاعر : نصر الله حافظ.

خپرندوی : د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه – جرمني.

د خپرونو لړ : (۱۰)

کمپوز : احمد قیس (همراه) نوید کمپیوټر، کابل.

چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه.

چاپ نېټه : ۱۳۷۸ ل ۲۰۰۰م کال.

د چاپ ټول حقوق د افغانستان د کلتوزي ودې ټولنې – جرمني سره خوندي دي.

بیه : په افغانستان کې ( ) افغانی

په پاکستان کې (۳۰) روپۍ.

په نوروهېوادونو کې ( ) امریکایي ډالره او یا د هغو اندول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

PROPERTY OF ACKU 8708

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپرندويې تولنې يادښت

د افغانستان د کلتوري ودې تولنې – جرمني لپاره د دېرې خوښۍ ځای دی چې د خپلې دويمې کلیزې په درشل کې د هېواد د پیاوړي شاعر نصر الله حافظ د شعرونو ټولګه خپروي.

د افغانستان د وروستیو څو لسیزو په شعري بهیر کې بناغلي نصر الله حافظ د مطرحو، یادو او نوماندو شاعرانو له جملې څخه دی؛ د هېواد د ادبي بهیر زیاتره لارویان د حافظ صاحب له شعرونو سره اشنا دي، د هغه شعري ټولګې یې لوستي او له هغو څخه یې خوند اخیستی دی. د هغه سلیس او روان بیان او پر شعري فنونو لاسبري د ده شاعري د عامو او خاصو د ذوق جوګه کړې ده.

حافظ صاحب نه یوازې د شعر او شاعرۍ له لارې هېواد ته د کلتوري خدمت جوګه دی، بلکې له څو لسیزو راهیسې یې د شاعرۍ تر څنګ نورې ادبي د هنري لیکنې او ژباړنې هم کړې او له دې لارې یې هم د هېواد فرهنګ ته نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي. لنډه دا چې پنځوس کاله کېږي نصرالله حافظ د هېواد ملي ژبې او فرهنګ ته خدمت کوي. موږ په داسې حال کې چې د هېواد دې سپېن ږیري شاعر او لیکوال ته د نورو زیاتو فرهنګي خدمتونو هیله کوو، د لوی خدای(ج) له دربار څخه هم هیله من یو چې ده ته ښه روغتیا او زیات عمر ورکړي چې د هېواد پر فرهنګي ګلبن باندې نور هم لکه د یو سندریز بلبل په څېر وچغېږي.

د افغانستان د کلتوري ودې تولنه – جرمني، په کانادا کې مېشته افغانه؛ درنه خور پېغله سپوږمۍ جرنیلي احمدزۍ هم د زیاتې ستاینې او مننې وړ بولي چې د دې شعري ټولګې مالي لګښت یې په ورین تندي ومانه او دا شعري ټولګه د چاپ جوګه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مات ستوري
او تته رنا

ډېرو خوږو، درنو او ګلو لوستونکو!
د پښتو ادب په اسمان کې چې تاسې د کوم "مات ستوري" نندارە کوئ او تاسې يې په خپلو لوستلو بوخت ساتلي ياست، دا د يوه بوډا او سپين ږيري شاعر د زړه د هغو وينو رنګ دی چې له ډېرو کلونو را په دې خوا يې د الفاظو په لباس کې ډېر سپين کاغذونه ور باندې رنګ کړي دي.
زه د "مات ستوري" د چاپولو او خپرولو په برخه کې د هغه خوا خوږي ورور د لورېنې ډېر قدر کوم چې زما د نورو دوو شعري مجموعو (د شمشاد له هسکې څوکې او ستا د چم ګلونه) د خپرولو په چاره کې يې ډېرې هلې ځلې کړې. د نومورو مجموعو شعرونه يې زما په اشعارو کې غوره کړي او نقل کړي دي. او د "شمشاد له هسکې څوکې" پر مجموعه يې سريزه هم ليکلې ده. زه ګران او قدردان ورور زرين انځور يادوم، چې نن سبا زمونږ د فرهنګ په اسمان کې د يوه ستوري غوندې ځلېږي.
کله چې ما ته د ښاغلي انځور ژبنی پيغام زما د يوې غزليزې مجموعې د چاپولو په باب زمونږ د ادبياتو د لارې د نه سترې کېدونکي لاروي (محترم يون) په وسيله را ورسېد، نو ما يو ځل بيا د خپلې پنځوس کلنې شاعرۍ د زړو او نويو دوسيو د ذخيرو پانې واړولې او يو شمېر زاړه او نوي غزلونه مې ورنه را ببل کړل، چې بيا مې هغه ګران صديق الله بدر ته وسپارل او ورته مې وويل چې د غزلو په غوره کولو کې ته اختيار لرې، چې هر څه درته ځوان او زلمي ذوق او د وخت غوښتنې اجازه درکوي، ته به هغه غزل د دغې مجموعې لپاره انتخاب کړې چې هغه هم زما دغه خبره په ورين تندي ومنله او دا دی چې "مات ستوري" ته دا ويار ور په برخه شو او ستاسې د شعر او ادب مينه والو د مطالعې ور وګرځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خپلې خبرې رالندوم، خو دغه خبره پر ځان لازمه ګڼم چې په دغه ځای کې اول له خپل محترم ورور ځوان ادیب محقق، منتقد او معاصر مشهور کیسه لیکونکي (انځور) څخه او بیا په جرمني کې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې او هم دارنګه له ځوان (یون) څخه مننه وکړم چې مات ستوري یې د دې جوګه کړل چې د هېواد د ادب پر اسمان خپلې تتې رڼاوې خپرې کړي. "بدر" ته چې د مات ستوري د شعرونو اهتمام کې یې خپل ځان ستړی کړی په دغه لاره کې ورته د لاتوفیق غوښتنه کوم، او همدارنګه بښاغلي (قیس د نوید کمپیوټر کمپوزر) ته کوروډانی وایم چې د مات ستوري د کمپوز په برخه کې یې له اخلاصه کار اخیستی دی.

والسلام

نصر الله حافظ

افغانستان - کابل، تایمني واټ

د ۱۳۷۸ ل کال د لیندۍ ۵مه.

ډالۍ

خپل دغه شعرونه دهیواد ډیرې دردیدلې او کړیدلې شاعرې
درنې پروین فیض زاده «ملال» ته په بشپړه مینه ډالۍ کوم
او دا هم یو هغه شاعرانه غبرګون چې ما په ۱۳۶۰ هـ ش کال
دغبرګولې دمیاشتې په لسمه نیټه دمحترمې پروین دیوه
بنکلي شعر له لوستو وروسته چې ماته یې لیکلی و، کړی دی:

که مې دردونه د زړه وینې راځه
کله نا کله خو پروینې راځه
درته په لارکې غوږیدلې پرتې
ږده په لیمو قدم دمینې راځه
دکوهکن زړه د تلوسو په خاطر
تپوس دحال ته مې شیرینې راځه
کورمې د زړه تش دی له غیرو ځنې
درته کووم خبرې سپنې راځه
چا دبیلتون په تیغ وهلې راته
له زړه مې څاڅي توریې وینې راځه
رنړا رنړا به کړي داتور تمونه
دخدای لپاره مه جبینې راځه
دلته دستا د زړه خبرې شته دي
نور شرم مکړه شرمګینې راځه
ستا د درانه پلو له سیورې لوګی
ای پنبتنې درنې سنګیې راځه
ستا د نازونو قدر دان دې «حافظ»
دادې هر وخته ناز نینې راځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مناجات

الهی کرم دې خپل راسره مل کړه
په امان مې له شیطان رجیم د غل کړه
پروانه چې ستاد عشق ورته رادرومي
د وحدت حراغ زما په زړه کې بل کړه
پیمانې چې د نورونو په کې ګرځي
د زړه کورمې د هغه بزم محفل کړه
بندګي مې له قصوره خالي نه ده
دا نیمګړی عبادت مې مکمل کړه
د ګناه خیرې مې پاک کړه په کرم خپل
ورک ددې عاصي له زړه د غه خلل کړه
چې تیارې د ضلالت شي پرې روښانه
را په لاس راته د خپل رحم مشعل کړه
د ماضي او حال په فکر مې زړه شین دی
راته بنکلی نامعلومه مستقبل کړه
ستا جمال ستاد جلال له برکته
لویه خدایه تور لحد مې مجلل کړه
پربنتې ئې چې په خاورو کوي فخر
په نصیب مې د هغې مینې درشل کړه
غني خدایه چې حافظ ئې شم د عمر
ستاد ذکر دا بیان مې مفصل کړه

۱۳۷۷/٤/۱۲

نعت شریف

خاونده ! ما بلبل کړې په ګلزار د مدینې
چغیږم به په ګلو هر سهار د مدینې
نصیب مې که سفر کړې رب په لورد هغه ملک
بنو باندې به پاکه کرمه لار د مدینې
بتان د مکې مات شول هم قصرونه د کسری
پیدا چې په مکه کې شو سردار د مدینې
نغمې د نبوت یې چې خورې وې په فضا
په زړه باندې مې اوري نوبهار د مدینې
د زړه وینې مې سرد ي ورته پښو کې په هوس
چې ووینم په خوب کې لاله زار د مدینې
شپو ورځو د بیلتون راباندې ژوند کړو خراب
نسیمه ! عرض مې وکړه په بادار د مدینې
له عمر نه لرمه دا آرزو په زړه کې زه
چې کاشکې وای زه خاورې په دربار د مدینې
وهې راته توپونه د سینې تنګه پنجره کې
لیدوته دې دزړه مارغه بې وار د مدینې
ارمان که مې پوره شو دا مې اینبې نذرانه
خیرات د سر به ورکړم په بازار د مدینې
حافظه! که د زړه ستر ګې دې غواړې پرې بینا
توتیا ورته په مینه کړه غبار د مدینې

۱۳۳٦/٤/۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوسیلو لنبکر

چې ئې ولګید پرمخ نظر زما
په هاله کې شوه د ناز قمر زما

چې په مینه ناپیدا هم پیدا وینم
شو په کومو رنجو تور بصر زما

د رنګ ساعت ته به د حُسن بازار لوټ کړي
کړي یرغل د اوسیلو لنبکر زما

مینې هومره لور پرواز سره آشنا کړم
د عنقا له پره بر شو پر زما

دا خو کار د مینتوب ته حیرانې ده
بخته! تا راوستل څه په سر زما

ما به وي د ستا پوښتنې ته لیږلي
که ته وپوښتې له چا خبر زما

امتیاز د دورنګی له منځه لاړه
تور او سپین د زړه کړه لوټ دلبر زما

قافلې د تورو زلفو به اوس لیږدي
راختلی د اُمیدۍ سحر زما

د حافظ د مینې درد کې خوشحالي ده
داچې خاندي د زړګي پرهر زما

۱۳۳۲/۱۲/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اُمیدونو سحر

په تورو زلفو کې مې سپین مخ د دلبر پتیږي
که نرئ وریځ کې د آسمان په لمن نمر پتیږي

زه ئې په نیمه لار کې پریښودم د ژوند د اوبو
په رنړا ورځ رانه د زړونو سکندر پتیږي

د مینې اور به مې مستي د جهان وسوزوي
کله په دې تنګه سینه کې د اشرر پتیږي

چې ئې کتلي ستا د اوښکو ملغلرې پرمخ
ځکه له شرمه په سیپي ورنه ګوهر پتیږي

د بلبل مینه خدای پیدا کړه د ګلونو سره
په سرو لمبو کې خوښې اورپښتې سمندر پتیږي

په اوسیلو مې داسې ستا زلفې پلو لاندې شي
لکه ماران چې د هودې له پاړوګر پتیږي

جانانه ! وایه مینه ستا به څنګه پته کړمه
کله په سر باندې زخمونه د خنجر پتیږي

حافظه دا دبیلتانه شپه به سبا شي آخر
ځوبه د ستا د امیدونو سپین سحر پتیږي

۱۳۳٤ کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنـــــــه دی

يـــــوه ئې مـينـــــه يـــــو مې يار بنـــــه دی
يـــــوئې د سپـينـــــې غـــارې هار بنـــــه دی

چـــې مـــې د هيلـــو غـــوټـــی وغـــورو ي
د تـــور شپـــې ځنـــې ســهـــار بنـــه دی

چـــې وي تـــازه باغـچـــې د حســـن په کـــې
په مـــوســمـــونـــو کې بهـــار بنـــه دی

چې ســره گلـــونه و په جـــم او جـــوش کې
جـــور د بلبلـــو پـــرې چيـغـــار بنـــه دی

بـــس دی د صـبـــر تنـــی ژر وشکـــوه
مـينـــــه کې کلـــه انتظـــار بنـــه دی

چې د آشنـا د کـــور په لـــور دې بـــوځـــي
د يار په مـينـــــه کې ريبـــار بنـــه دی

مـــاتـــه د نـــورو له گلـــونـــو ځنـــې
جانانه ! ستـــا د سيمـــې خـــار بنـــه دی

وطنـــه ! ستـــا د ننگـــرهار په سيمـــه
مـاته له تـولـــو چپـــرهـــار بنـــه دی

شـــه حافظـــانـــو کې ديـــره حـافظـــه
مـرشـــه همـــدلتـــه دې مـــزار بنـــه دی

۱۳۳۰

نه غواړم

بلد په لاره يم رهبر نه غواړم
زه د خپل سر لپاسه سر نه غواړم

ځم د ازل د رهنما په نظر
هغه نظر ته بل نظر نه غواړم

چې څه بهبود په کې د مينې نه وي
دغه کتاب هغه دفتر نه غواړم

چې په کې پروت نه وي خيرات د حسن
خالي کچکول د قلندر نه غواړم

چې يې د يار په سرونه ښندمه
بې نوا ښه يم سيم او زر نه غواړم

د حق ويلونه چې ژبې تړي
دغه جادو دغه منتر نه غواړم

چې په کې څيړي وي د زړونو جامې
هسې براتې هسې اختر نه غواړم

چې مې د زړه سپيلنې نه کړي لوګي
دغه بې سوزه شان مجمر نه غواړم

دا د غرور مانۍ چې نه کړي لمبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

آهـــــه! پـــه تاکې پـــټ شـــــرر نـه غـــــوارم
د حـــق پـــه لاس کې چـــې ونـــه ځليـــــبږي
ايښـــي پـــه تيکـــې کې خنجـــــر نه غـــوارم
د بـــــري تـــوغ چې پـــرې ونـــه رپيـــبږي
هغـه مـــات شـــوی وران سنگـــــر نه غـــوارم
کـه مې پيـــدا کـــړه د زړه ورکـــــه مـيـــنه
نـــور بـــه ملکـــونه در پـــــه در نه غـــــوارم
په خـپـــلـه ځـــالـــه پاچـــاهـــي کـــوومـه
چې نور پرې ښکار کـړم بـــال و پـــر نه غـــوارم
کـه شـــي د چـــا له شـيـنـــکي خـــاله قـــربان
کـه ســـــر مې ځـــي تاوان د ســـر نه غـــوارم
چې ځـــان را ياد کـړي او جـهـــان مې هيـــر کـــړي
زه «حـــافـــظ» دغـــسې هنـــــر نه غـــــوارم

۱۳۳٦/٥/۱
پښتني تجارتي بانک

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اجل تبه

چې کور شمال دې په وربل راشي
په زړه زما د غم غوبل راشي
چې اوسيلې دې تش له خولې نه وځي
نو په ما تبه د اجل راشي
په تروه تنده چې را وګورې ته
غم له ما تمه سره مل راشي
بيلتون دې اوردی دم په دم مې سوزي
ستا په وعده يوځه تسل راشي
ځان آئينه کې هغه وخت وګوره
چې دې پرمخ د زلفو ول راشي
درنه به پتهه کړم ادا د ستر ګو
که چيرته ما ته د غلا چل راشي
په زړه مې دير څه درته ګرځي ګرانه
خو ګه په خوله دغه ويل راشي
شوم پښيمانه په دې کړې رندی
نه چې په مينه کې خلل راشي
حافظ چې ستړی په فراق کې شمه
د زړه دمه مې په غزل راشي

۱۳٤۲/۲/۱٤

د اوښکو کاروان

ستا د سرو شونډو شفق او د سپين مخ آسمان مې خوښ شو
ځای په ځای خالونه ستوري کهکشان پيزوان مې خوښ شو
چې وسا ويشتل په زړه کړې د کبرو بنو په غيښو
او ګوذار ئې خطا نه ځي د ابرو کمان مې خوښ شو
بنه چې ستا د تورو زلفو سلسلې مې ژولنې شوې
که له قيده مراد داوي يم رضا زندان مې خوښ شو
د وصال متاع به راوړي پس له ډيرو خټه بيلتونه
په زيرمځ د تړمو اوښکو راروان کاروان مې خوښ شو
چې نرګس دې مستې سترګې شرموي له ډيره خياله
د جنت ګلشن به څه ګرم د بنګلا بوستان مې خوښ شو
که د سر په بيه وشي پرې به واخلمه ستا مينه
له سړې ګتمې نه تير يم د عشق تود تاوان مې خوښ شو
ستا په غاړه اميلونه په کې رنګ په رنګ ګلونه
زما سوې ارمانونه دريده ګريوان مې خوښ شو
خوله پياله د سرو شرابو صراحي په شانته غاړه
د ملالو سترګو زمب کې د خمار توفان مې خوښ شو
په محفل کې د رندانو چې د عشق د ميو ويش کړي
ساقي د که پياله راکړه د جنون جهان مې خوښ شو
د حافظ په سوې زړه کې بې له سوزه بل څه نه شته
چې له سوز او درده د ک وې نو هغه بيان مې خوښ شو

شريکه دنيا کابل - ۱۳۴۳

خوارحسن

په شکیدلي ګریوان زانګي جړې زلفې پریشانې
شوې د خوار حسن کتوته د جهان سترګې حیرانې
د هوسې په شانته سترګې ، د نظر د ښکار له ویرې
د سپین مخ په ورشو ګرځي زارخطا او سرګردانې
له بنوئې د ګوهر ودانې اوري خوارمان چې
دې د اوښکو ملغلرې نابیناوته ؤ ته ارزانې
د کږو وروځو باتورئې د تندي په چګس ناست دي
وزر څنډي ښکار لپاره خوري د زړونو غزالانې
خوله سیپې غاښونه دُوردي خود قدر بازار وران دی
د آهونو قافلې ئې په سپیر و شوندو روانې
مورنۍ ژبه ئې خوله کې په پښتو کوي خبرې
په پښتو ورسره کاندي ژړا نازونه ادا ګانې
زنګ وهلی سپین چارګل ئې هسې زیب کوي په پوزه
نندارې ته ئې دریدلي په حیرت کې دي ښاریانې
ښکلې زنه ئې منه ده پرې پرته د خواری دوړه
وچې شوندې ئې په غم دي هم د ګل غوندې خندانې
په زاړه څادر کې نغښتې د ښکلاو پرښته ده
ځای لري د زړه په عرش کې په غمزو کړي غزاګانې
د مزدورې ابې لور ده پلوشه جوړه د نور ده
ساده حسن ته ئې پسخیږی په ارم کې ښاپیریانې
د خوارحُسن ترانه ده څه غمژنه افسانه ده
په رښتیا چې دا خبرې په حافظ دي دیرې ګرانې

د میزان میاشت ۱۳۴۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وصل باده

چې په کام د محبت کې يو کرت سړی ناکام شي
د پخو مېو په باغ کې د نصيب نظر په خام شي

په محفل کې ورته راوړي ساقي بنه شراب د مينې
د قسمت چاروته ګوره چې چپه ئې لاس کې جام شي

د بيلتون په ترخوباندې لذت مومي کار د مينې
دغه کيف به په کې نه وي که د وصل باده عام شي

د کيميا اثر ورکړی خدای نظر ته د نمر مخو
تورې خاورې پرې سره زرشي چې ئې هر پلوته پام شي

کور مالت به ټول له مخې ستايه وال کړي د خپل حُسن
شاه ليلا که نن له خياله مازديګر پورته په بام شي

د هوښيار مارغه په څير به په پسل لومو کې راګير شم
زمانه راته له ستر ګو په قدم قدم کې دام شي

ليونی ديار په زلفو کې ورلويږمه يارانو
په بنه بوی باندې رغيږي خلک وائي چې سرسام شي

زه حافظ په هوډ ولاړيم ان د مرګ تر پولو پورې
که د ژوند تنکی غرمه مې په همدې ګړی مابنام شي

۱۳٤٥/٤/۲۰

یوه موسکا

ای ربـــاره راته وایه چې دلدار مې ؤ کـــه نه ؤ

چې له ځانه راته ګران دی هغه یار مې ؤ که نه ؤ

چې د زړه غوښتنې مې ګل ګړي د وصال په نسیم باندې

دې خـــزان وهلي ژوند ته نوبهـــار مې ؤ کـــه نه ؤ

زړه ئې واخسـته له مانه چې یوه موسکا ئې وکړه

هیڅ له ځانه خبر نه وم چې اختیـار مې ؤ کـه نه ؤ

زه د عشق په کـار او بار کې د وفـا سـره آشنا یم

چې ئې خوی مو دام جفاده جفا کار مې ؤ کـه نه ؤ

چې زمـا د خـولې خـبرې وې په ساه ورته ارزانې

په بازار د مـحـبت کې خـریدار مې ؤ کـه نه ؤ

څه چې وائې راته وایه د جـافظ له خـوارې مـینې

د بیلتـون په سـرو لمبـو کې نار کـرار مې ؤ کـه نه ؤ

۱۳٤۸/۲/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غازي منت

په داهسې مخ به کوم نيک بخته خوله وړي

چې منت لا د غازي هم په ځان نه وړي

که مطلب يې ترې زما خواشيني نه وي

په سپين مخ ځله د ناز خالونه شنه وړي

خوږې شوندې تريخ نظر دا څه دستور دی

چې په يوځای د خوږو سره ترخه وړي

چې له خياله په شالاړه شي وخاندي

بويه داچې مې ملهم په زخمي زړه وړي

لينديو وروځې ئې سم دم ويشتل په زړه کا

د بنو غشي که ډير په کې کاږه وړي

زه ئې خاص ستا د غمزو اشاره بولم

چې رقيب مې په هرځای کې پل په پله وړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې سازه سوز

ستا يوه موسکا به په جهان باندې ورنه کړمه

خدايږو چې دا ګټه به په زيان باندې ورنه کړمه

کيږي مې چې تا سره د مينې راز و نياز په کې

زه به دغه شاړه په بوستان باندې ورنه کړمه

اينبي چې پرې تا د ناز مکيزدک قدمونه دي

دغه خړه خاوره به آسمان باندې ورنه کړمه

کومه خوشبوئي چې ستا د څنو يوه تارکې ده

مفته به ئې د منبکو په کاروان باندې ورنه کړمه

مينې ليونی څه چې د ستا په ليونتوب کې دي

هغه هوښياري به په لقمان باندې ورنه کړمه

مه راوړه په مينه کې دارو طبيبه ! خير يوسې

دا بې سازه سوز به په درمان باندې ورنه کړمه

١٣٥٠/٥/١٦

د زلفو جهان

په کومه ژبه صفت وکړم د جانان د زلفو
مائي په زلفو کې لیدلی بل جهان د زلفو
چې ئې بیګاه د چا پرمخ د زلفو شپول لیدلی
سپوږمی د خواست ځولی خوره کړه په اسمان د زلفو
څوچې زنځیر او زولنې د زلفو وته ګوري
په خود به نه شي په هیڅ رنګ ته لیونیان د زلفو
اغیاره زه ئې خوی او بوی د کفر څه پیژنم
یم ساده د له سپین سپیڅلی مسلمان د زلفو
ژوندون هغه دی چې په وصل کې د زلفو شي تیر
قایم قیامت کاندي په ما باندې هجران د زلفو
تا را په غاړه کړلو اوس د تورو زلفو زنار
ما قبول کړی لا د وخته دین ایمان د زلفو
زه چې دا زلفې زلفې وایم عبادت ئې ګنم
خدای هم په خپله صفت کړی په قرآن د زلفو
په هر سهار چې د سنبل د زلفو ذکر کوي
لرې په غاړه د عشق لومه بلبلان د زلفو
جانان له ما تاوان د خپلو ماتو زلفو غواړي
په سر او مال به شي پوره کله تاوان د زلفو
خدایږو چې زړه به د زاهد ورپسې بوت ووځي
په کومه ژبه چې حافظ کړی بیان د زلفو

۱۳۵۰/۱۱/۱۰

یوه دره ده

دی وطن د بنـــا پیـــریـو د بنکلا یـوه دره ده
د سپـین غـره په لمن ویره په رښتـیـا یوه دره ده
چینې تا ندې د خـور غـاړې ګـودرونـه ئې ودان دي
مـازدیګر ئې د کـتـو دی تماشـا یوه دره ده
نیـمـه شـپـه ئې له دیرونـه د تپـو آواز جګیـږي
د سـتـار په زیر او بم کې جـان فـزا یوه دره ده
ګـورې ونې ګـڼ باغـونه جنتي مـیـوې په کې دي
چې سیل بین په کې خوشال وي بس همدا یوه دره ده
ګل کڅونه په کې شته دي رنګ په رنګ په کې ګلونه
د بلبل له نغـمـو څکـه هر سـبـا یوه دره ده
د زړه غـوښـه هر میلمه ته ورکـوي په خپله خوښه
ده مـشـهـوره مـیلمـه پاله له پخـوا یوه دره ده
د سپـین غـره سرې اوبـه ئې جـوړ درمل د رنځورانو
په هوا کې ئې شـفـا ده خـوش هوا یوه دره ده
د نسیم وزمه ئې څه ده په کې پروت د مسیح دم دی
د قـدرت له رنګینیـو جـوړه بیـا یوه دره ده
مـحـبت مـینه ئې زړو کې تل ژوندی پائي په مـینه
د وحـدت د نـور په وړانګـو کې رڼا یـوه دره ده
یوه بنکلې شـان ورشـوده په کې ګـرځي غـزالانې
سـراسـر دکـه له عـشـقـه او صـفـا یوه دره ده

ـ بې مينه ، بوتې مينه ، هوا مينه فضا مينه
د مجنون د مينې کوردې د وفا يوه دره ده
غم ئې کم شي چې څوک ورشي تود بازارېکې د حسن
يه د حسن سودا گره ! د سودا يوه دره ده
د سپين غره د سپينو واورې سپينې وړانگې پرې خپرې
پرې مين د آسمان غږ دی په دنيا يوه دره ده
ياتوران او شاهينان ئې لا له بنکاره ستړې نه دي
شاهبازان ئې مودام څرخ خوري په فضا يوه دره ده
د هنر او ادب بزم په کې پاتې دي تل گرم
د محفل د يومئې بله نا آشنا يوه دره ده
توله شپه د اسمان ستوري هم د دې بنکلا ته گوري
د سپوږمۍ زړه په کې خوښ وي دلکشا يوه دره ده
چې جرار ، بيدار ، بينايې بنکلا وار په وار ستايلې
د حافظ د ژوند جوړه څه زيبا يوه دره ده .

۱۳۵۲ کابل

چپرهار

د غم سندري

قلم مې نه ليکي کـــه ليکي نـو د غم سندري
چې مې لګيـږي شـپـه او ورځ په غـوږ د بم سندري
چې په ســرو وينو کې لمده ده د وطن جـامـه مـو
کله راځي زمـــا په خـــوله د جـــام جم سندري
وخت رانه تيـر شـو د خـوښي او خـوشـالي د سـرود
دي په سُـر شـوي په هرسـاز کې د مـاتم سندري
خـوښي د روغـو زړو نصـيب شـه زه ناروغـه يـمـه
مـاته منظور دي درده ستـا د خـوارۍ چم سندري
ای د تقـدير کـاتبـه تانه به ګـيله څـه کـوم
مـــاته د مخ په پانه تل ليکه ونم سندري
وه دا دنيـــا به اوښکې اوښکې له مـــاتمه ورته
کـه اوريدی شـوی چا په هجـر د شـبنم سندري
پام کـوه پام رباب د روح ته مې چې لاس رانه وړې
شي به يې جګې له هر تاره د مـــاتم سندري
«حـافظ» خـولاړو کـډه ئې بار د ارمـانونو کـړله
اوس به ځـــوک ووايي درخـــوته د آدم سندري

۱۳٦٤/۳/۳۱

شاه شهيد کور کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پتنګانو محفل

بلو و شمعې پتنګانو ته محفل جوړوو

د مینې سوو لیونیانو ته مقتل جوړوو

چا کړې څه څوک به کړي څه او لا به څه کوي څوک

مور شاعران یوځان ته بزم د غزل جوړوو

مور د دنیا او د عقبا د جوړیدلو نه یو

د شعر پیغلې ته په نوي رنګ وربل جوړوو

مور د ابد د ناکردو میرنې نه یو دومره

سپیره تندي کې ورانې لیکې دازل جوړوو

غمازه تاته مبارک شه دا د ځمکې دوزخ

د کهکشانو ملک ته مور لار د منزل جوړوو

داچې خزان باغچوکې ګرځو د ګلونو پسې

بنکلي کوو وربانديې څلي د بلبل جوړوو

۱۳٦٤/۷/۱۱

کور شاه شهید

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نظر براق

د نظر د براق واګي دې لږ تم کړه

عرش د ذره مې مشرف په خپل کرم کړه

د سرو اوښکو پسرلیه ورندی شه

دا خزان باغچې مې ګل په خپل کرم کړه

زما څیري ګریوان پریږده چې وي څیري

را په یرغه خوشحالي د ټول عالم کړه

زه د مینې مانو ګی یم پروامه کړه

د الفت د ریاب دې دې خواته راسم کړه

د وصال په لاس د سمال د عطا واخله

پرې مې وچ د بیلتیانه د ستر ګونم کړه

چې دې وخورم د زلفو په منګورو

د سرو شوندو پاڑو ګره اوس مې دم کړه

د یر غمونه په ما را غلل ته چې لاړې

په راتلو دې د حافظ نه لرې غم کړه

۲۴/۸/۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمال تصویر

د بیلتون اوښکې مې داغونه په ګریوان پاتې شوې

د زړه کتړې مې په کوڅه کې د جانان پاتې شوې

دا يې تصویر دی د جمال لږ را په خود شه عقله

د آئینې غوندې چې ته ورته حیران پاتې شوې

حسن بدل مینه بدله شوه سنګار بدل شو

لاړې کیسې ستا د نتکې او د پیزوان پاتې شوې

د سبا ستوری څه بې ځایه راختنه وکړه

ستا د ګیلو مانو خبرې مې آرمان پاتې شوې

مینه به اوس درته د غیبې نه جنت جوړ ګرې

چې په مالت د لیونو څیرې ګریوان پاتې شوې

اوس جنازې پسې دې واړه ټکلې منديې وهي

حافظه! ته چې تل د حسن ثنا خوان پاتې شوې

۱۳۶۶

د بغداد په لور

روان یو له کابله د بغداد په لوري ځو

دیدن ته د چا بنګلو د مراد په لوري ځو

شو دلته مولة څرمې فریادونه بې حاصل

د وخت له بې دادیه ځود داد په لوري ځو

زیارت به هلته وکړو د نجف او کربلا

د مینې او وفا د تینګ بنیاد په لوري ځو

سلام ته به په ستر ګو ځو د غوث ثقلین

نابناد زړونه به بناد کړو چې د بناد په لوري ځو

مونده ګوندې ارمان کړو د بابل په خرابو کې

تاریخه! ستا د ستر برم د یاد په لوري ځو

کیسه به را تازه کړو د هاروت او د ماروت

ای عشقه! ستا وعدې ته د میعاد په لوري ځو

دربار کې د امام بوحنیفه به وکړو عرض

د مینې طالبان یو دا ستاد په لوري ځو

مرشده لاس مونیسه چې مویونسي دجله

ده څومره نیک مرغي چې د ارشاد په لوري ځو

۱۳۶۶ لړم ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زړه زور

ورو په ورو باندې کـــــمـــــيـــــږي د زړه زور مې

اوبه کـــــيـــــږي اوبه کـــــيـــــږي د زړه زور مې

د فـــــراق په کنډو کله د خـــــتـــــو دی

هسې رنګ رامـــعلومـــيـــږي د زړه زور مې

چې خـــزان مې شـــو مـــيلمـــه په باغ د عـــمـــر

لکه ګل غـــــونـــدې رژيـږي د زړه زور مې

په څنګ شـــوی چې د ژوند له ګـــيـــرو داره

په خـــپل ځـــان باندې پوهيـــږي د زړه زور مې

چې هر څـــومـــره جـــفـــا پورته ځي د دهر

هومـــره ښکته ښکتـــه کـــيـــږي د زړه زور مې

چې لـيـــــــدلی يې د چا د مـخ ډيـوه ده

د پتنګ غـــونـدې ســـوزيږي د زړه زور مې

۱۳٦٥/۱۱/٥

کورشاه شهيد

PROPERTY OF ACKU 7707

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځي او راځي

دا څوکاله خو په غم ځي او راځي
په فریاد ویر او ماتم ځي او راځي

نوروز څه دی بدرګه ورسره هر کال
درد او غم په هر قدم ځي او راځي

بې یارانو به د زړه خوښي په څه وي
په زړه څریکې د الم ځي او راځي

خندا وچه ده د شوندو په مالت کې
په هر مخ د ستر ګونم ځي او راځي

د بسادی د ساز نغمه ده چوپه شوې
انګازې د توپ او بم ځي او راځي

ګلان مراوي پر بلبلو ماتم جوړ دی
پرې د سرو لمبو کرم ځي او راځي

لا زماد زړه د ګل بوتې خزان دي
پسرلی مې ګنه په چم ځي او راځي

چې زماد زړه د بن بلبل خاموش دی
پسې سیاه مې دم په دم ځي او راځي

چې د بنګلې مخ رنا یې لمر کې
ښکارې

نو په ستر گو مې تورتم ځي او راځي
سره اورونه يې په سر باندې بليږي
پر گنې د بنی آدم ځي او راځي
لکه سيوری مې دمساز د وطن غم شو
دم قدم راسره سم ځي او راځي
لا به نور ستاد هجران غمونه راشي
گرانه تر اوسه خولاکم ځي او راځي
په کې خوند ستاد پايزبو د شرنگ نشته
بنا پيری که دارم ځي او راځي
د ځوانی احساس پرې نه ناځي مطربه
ستا نغمې په زيړ اوبم ځي او راځي
دی شکولی ورته چا اميل د غاړې
په ژړا مې چې صنم ځي او راځي
زړه تک تور دی د رقيب خو په ظاهر کې
د دوستی په خوله قسم ځي او راځي
د سپين غرغوندې مې زړه ورته ولاړ دی
که پرې وريځې د ستم ځي او راځي

۱۳٦۷/٤/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیوهیزم

د بهار بنکلي رنګونه وزرنګونه

ورسره د عشق سازونه ؤ سازونه
کیه اغیار وپه کې خاوکرلي نه وای
دا وطن به اوس ګلونه ؤ ګلونه
په ویدن به د چوبل نه مریدلو
مینې څنه عجب وختونه ؤ وختونه
ستر ګې څیروي د وطن د هرې پیغلې
د شرابو دک جامونه ؤ جامونه
هر سهري د ژوند په قدر ؤ خوشحاله
ورکه له څیرمې تول غمونه ؤ غمونه
ژرانه وه فریاد نه ؤ غرغانه وه
له خونبیرو دک ګلونه ؤ ګلونه
حافظوایي دا دوزخ ورنه چا جوړکړ
د جنت غوندې باغونه ؤ باغونه

۱۳۶۷/۱۲/۱۰

د رادیو لار

ارمان

تالاتر څوک شعور د چمن ګلونه ورژېدل

زما د مینې د ګلشن ګلونه ورژېدل

چې په خوږ زېږېدې صفت کاؤ د چا د حسن

په باغ او بن کې د سوسن ګلونه ورژېدل

بنکلا د پیغلو د وربل او د زلمو شملو

لاړه زمونږه د وطن ګلونه ورژېدل

باد صبا چې خبر ورکړ د شېرینې د مرګ

تازه په وینو د کوهکن ګلونه ورژېدل

نور زلیخاته څه شي پاتې د ویلو نشو

چې د یوسف د پیرهن ګلونه ورژېدل

که زر سپرلی راشي حافظه وبه نه غوږ یې

که دې دائحل ته د سخن ګلونه ورژېدل

۱۳۶۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ديدن خيرات

نن دې ستر ګو کې د کوم شراب مستي ده

چې راغلې مې په زړه هسې ستي ده

ستا ترخې سپورې زما خوږې د نورو

یاره ! دا څه محبت څنګه دوستي ده

ساقي ستاد منت بار په ولونه وړم

دا باده زما په لاس کې «الستي ده »

پیدا شوی له ازله یم سرلوری

د غماز غوندې مې کله زده پستي ده

د دیدن خیرات ژرژر ویشه په خوارو

د خیر کار کې په کار هر کله چستي ده

مبارک دې د بنکلا هستي تل اوسه

را په برخه تل مودام ماته نیستي ده

ای د حسن زبردسته رحم بویه

د حافظ خواري د عمر زیر دستي ده

۱۳٦۸/۲/۱۰

رادیو انصاری وات

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ځواني

ځواني وه څه د خوب کتل ؤ چې بس تيره شوله

يا خود ستر گو رپول ؤ چې بس تيره شوله

وي څه تغبير به دا زما د نامرادې ځوانۍ

په سرو لمبو کې سوزول ؤ چې بس تيره شوله

که وه د چا ځوانۍ په خُم کې د شرابو دوبه

زما په غم کې دوبول ؤ چې بس تيره شوله

يوه غمژنه حادثه وه د بهار په موسم

د سرو غوتې ريژول ؤ چې بس تيره شوله

شاعري څه وه لږ ساعت د چا د زلفو په تال

د څو خيالونو زنگول ؤ چې بس تيره شوله

مينه وه څه پرته له دې چې د زړه وينې وخورم

د زهرو گوټ ؤ تيرول ؤ چې بس تيره شوله

وصل ؤ چيرته وه به دا دې يار د هجر څپه

په سرد غرونو اړول ؤ چې بس تيره شوله

١٣٧٨/٢/١٤

راديو لار

د زړه کعبه

اوس به د مینې ګلی سم ورانیږي
خال په تندي چې د صنم ورانیږي

ګریوانه دوب دي کړم توپان د اوښکو
د میږي جاله په شبنم ورانیږي

ورنه راتاودي تور پیلان د وحشت
کعبه د زړه مې دم په دم ورانیږي

کومه دنیا چې اوسیلی ورانوي
نه په ګولی او نه په بم ورانیږي

زوریې زما د عشق په ولو راځي
د چا پرې څه کړه زیات او کم ورانیږي

خزانه! ستا د بې رحمی له لاسه
باغچې د ګلو چم په چم ورانیږي

څه خودي شوي د درخو په وږل
نغمه رباب کې د آدم ورانیږي

۱۳٦۸/٤/۱٤

د رادیو لار

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عشق کعبه

کـــــه زمـــــا عـــــينه له ازله اوسي
ســـــتا د بنـــايست ديوه دې بله اوسي

چې د بنـــــو خـــــبـــــرې ژبه وکـــــړي
غـــــماز دې ورک له دې مـــحـــفله اوسي

کـــعـــبې د عـــشق ته چې لار جـــوړه نه کـــړي
پـــښې مې دې پاتې له مـــــــزله اوسي

چې پرې توده وي هنگامـــــه د مـــيـــنې
اور مې د پـــورته له گـــــــو گله اوسي

زه غـــــوروم ســـــتـــــرگې يه لاره ورته
چې راســـتـــانه ســـتـــا له درشله اوسي

چې مې منظوره قـــــربـــاني شي د ســـــر
بخـــتـــه! هغـــه ســـاعت به کله اوسي

تـــوبـــه د هغـــــه اوســـــيـــلـــى له تـــاوه
چـــې رابـــهـــــــــر د زړه له تـــلـــه اوســـي

١٣٦٨/٥/٤

رادیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

داځه وشو

داځه وشو داځه کيږي څه به وشي
ګرانه یاره ! یارانه خو داسې نه شي
ای زما د رنځ طبیبه راته وایه
دا غمو خوړلی زړه به څنګه ښه شي
زه خوستاد مینې اوربل په سر ګړځم
ته زمانه مانړیژن ګړځې په څه شي
ستاد ستر ګو یوبانه دې هم کور نه شي
خیر که غشي مې لک شوي تړې په تشي
غوږیدلې مې لیمه درته په خاورو
نه چې ستا تلي په خاورو کې سپیره شي
بیا به داد عشق غوغا نه نه وي کوڅو کې
که د مینې لیونې چرته ویده شي
ته به څه کوې د مینې آدم خانه !
که درخود پښتو بل چاته واده شي

۱۳۶۸/۶/۱۲

رادیو انصاري والټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رنا څرک

څـــــــرک د رنا ته انـتـظـار کـــــــــابزم

تـورو تـيـــــــــارو کـې د ژوند لار کـــــــابزم

چې مې يو گل نشـــــــــته د ژوند په بـن کې

مـنـت بـه څـلـه د بـهـــــــار کـــــــابزم

هـيـــڅـوک په غـم راسـره نه شـو شـــريک

پـه يـوه ســـــــر دغـــــه نـاتـار کـــــابزم

وران کـــــــړي څـــــوځـله بـاران د اوښکـو

چې په کـــاغـــذ دغـــه اشـعـــار کـــابزم

چې مې تـرڅـــــــو قـلـم په گـــــوتـو کـې وي

نـوم د جـــــانـان بـه پـرې بـار بـار کـــــابزم

حـــــافظ گـلـونـه تـولـووم د شـــــعـــــــر

غـــــاړې تـه ســـــتـــــا د گـلـو هار کـــــابزم

۱۳۶۸/۸/۲۹

شاه شهید کابل

د مینې راز

لکه چې خوارووم هسې خوار پاتې شوم
ستاد دیدن په انتظار پاتې شوم

نور د وصال منزل ته ورسیدل
زه د بیلتون په نیمه لار پاتې شوم

طبیبه ! راغلې لاړې څه دې وکړل
زه لاهم هغسې بیمار پاتې شوم

په اوسنۍ یارۍ کې ګټه نشته
خوشې په تمه د ریبار پاتې شوم

د زړه باغچه مې لا خزان پرته ده
هسې په هیله د بهار پاتې شوم

د مینې راز مې پوره ونه ساته
داچې رسوا په سردار پاتې شوم

صیاد ترلي دي وزرې راته
چې بې نصیبه له ګلزار پاتې شوم

فریاد د خور مې چا ته ونه رسید
که ترسبا پورې بیدار پاتې شوم

د خپلو اوښکو په تاو ښه پوخ شومه
لکه کبـاب په سـرۍ انګار پاتې شوم
نوخ يې له ځمکې نه آسمان ته وخوت
زه چې د حسن خريدار پاتې شوم
ملګري ټول منکر د مينې نه شول
بس خو يوزه په کې اقرار پاتې شوم
آسمانه! ستا د بې رحمۍ څخې
د زړه له زوره وار په وار پاتې شوم
جنونه غوږ مې ستا په غږ اښنې دی
ناست يوې چغې ته تيار پاتې شوم
درباره حسن ته يې وته غوښتم
داخو په لسـه د اختيار پاتې شوم
بې نيازۍ مې نه اخلي د پيازو په نرخ
د بې عرضيو په بازار پاتې شوم

۱۳۶۸/۹/۶

د وحدت شمع

اقبال چې د اقبال په براق سپور راغی محفل ته

مستي راغله جذبه راغله او شور راغی محفل ته

بې واره یو پر بل پسې جامونه تشوي

قربان دې شم ساقي عجب مي خور راغی محفل ته

زاهده ! اوس دې تینګه کړه پګړی د تعقل

د مینې لیونی چې نن سر تور راغی محفل ته

دارو ورسره شته د بې خودی د رنځورانو

طبیب غوندې حبیب غوندې غمخور راغی محفل ته

چې ویې لیدله بله دلته شمع د وحدت

پتنګ غوندې د مینې سوی سکور راغی محفل ته

ګوتلي یې پوره ؤ د ازل په پیمانه

له ځانه بې خبر غوندې نسکور راغی محفل ته

اوس تینګه میکده کړه چې خمونه چپه نه شي

د څیرې ګریوانونو کلی کور راغی محفل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځه ښکلیه ! دلته چې هرڅه دي ښکلی ښکلی

لتا سره درځارشم ښایست نور راغی محفل ته

حافظه! ساز د روم او د تبریز او د خیبر

یوځای شو د زخمي زړونو تکو راغی محفل ته

یادونه : د ۱۳۶۸ کال د روژې د میاشت ۸ شپه خوب وینم چې د یو شمیر روحاني او عرفاني شخصیتونو ترمنځ استاد حمزه شینواری ناست او د سلوک او تصوفي ادب په باب خبرې کیږي چې په دې کې له کومې خوا ډاکتر علامه اقبال راښکاره شي . د هغه په راتلو د ټولو ستر ګې د هغه خواته واوړي . په دغه وخت کې استاد حمزه ماته ووایي چې حافظه ووایه د اقبال په استقبال کې یوځه ووایه چې د استاد د دغې وینا سره سم زما په خوله د پورتنۍ غزل مطلع راشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوښکو باران

باران د پسرلي سره ګلونه راوړي

ګلونه راوړي او رنګونه را وړي

د تالندې بربنډ د تنګ ټکور په انګازوکې

په کلانو ښوتو یو رنګ ته حسینونه را وړي

تول خلک خوشالي کړي نه پوهیږم چې داولې

په ما غریب دلې دلې غمونه را وړي

فریاد له هر کوزه پورته کیږي شپه او ورځ

زمور په کلي کور باندې غمونه را وړي

حافظه بکه په نورو شي باران د سرو ګلونو

زمونږ په سرو باندې اورونه را وړي

۱۳۶۸/۱۲/۱

(c) kqtabton.com: The Digital Library

د چا یادونه

په زړه مې بیـــاد چا خـــواږه یادونـه را.وریږي

یـادونـه راوریږي کـــــــه ګلونـه را وریږي

مـــاوې چې به یوازې اور د غـــمکې په مخ بل وي

آسـمانه ستـا له ستـر ګـو هم اورونه راوریږي

خـوښي ده خـوشـالي ده د دنیـا په کـور او ګلي

دا خـوار ګلي زمـــور دي پرې غـــمونه را وریږي

څوک مري له دیرې لورې پرې خواري د ځنګندن ده

په چا د من سلوا و نعـــمـــتـــونه راوریږي

زمـــا د هیلو ځـــالـه به پرې ولې لمبـــه نه وي

شـیـبـه شـیـبـه سکروټې بارانونه را وریږي

ته ښاست اوسـه په امن کې د شـیش مـحل خـاونده

زمـــا په خـــواره خـــونه دي بمبـــونه راوریږي

په مـــور خـو تل راتلونکې مـــرحلې دي د زحـــمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای ربه ! دا په چا ستا رحمتونه راوریږي

یوڅه خو د دیدن باران په دې خواکړه راستون

اشنا په زړه مې د پر ستا دیدنونه راوریږي

زه نه یم شرابي په بل پلویې اړوه

له ستر گو دې قربان شم تر پې جامونه راوریږي

طبیبه ! هسې خوشې دې ځان مه بد نامه

زمود په کور او کلي تول دردونه را وریږي

کوڅه د لیونوده تر پې په ډډه ځه حافظه

مودام دلته کې څیري گریوانونه راوریږي

۱۳٦۸/۱۲/۲۸

د عبدالصمد خان اڅکزي سیمینار آریانا هوتل کابل

د درې ورځو میلمانه

پرون راغلو نن دلې ستاسې ستانه یو

دنیا ستا په کور درې ورځې میلمانه یو

د پلونښې به مو وي او مور به نه یو

مور ملګري د فنا د کاروانه یو

چې دا وریځې لږ خپرې شي مور به هم ځو

پنا شوي دلته له لږ له بارانه یو

زر سپرلي که راشي لا رشي نه غوږیږو

مور سیزلي سرو لمبو د بیلتانه یو

د مرګي د سیند څپو یو را احستي

نه دریږو نه ستنیږو په یانه یو

نن سبا یې په مور ستر ګې در نې شوي

اوس پوه شوي مور په نیت د کوربانه یو

ده څرګنده راته ستا د اجل هنده

مرګه ښه خبر شه مور هم پښتانه یو

زمور لاره د حق لاره ده حافظه!

مور د سپکو پسې نه ځو چې درانه یو

۱۳۶۹/۹/۱۹

روژه ۱۳ نیټه شاه شهید د ګهیځ اوه بجې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حُسن غل

اورشومه د مينې په زړه بل شومه

ماوې زه به ژوند شمه اجل شومه
شمعې په سلګوکې پتنګ وسيزه
داڅنګه محفل ووم چې مقتل شومه
هسې رنګ معمی شوم چې حل نه لري
جړشومه جوړستا د زلفو ول شومه
خوا د رقيب نبه راباندې يخه شوه
نبه د بيلتانه په ژرنده دل شومه
ستا د مخ د نمر وړانګې چې تقې شوې
ورک شومه د شګې د مخ ځل شومه
ملامې ستا د غم پيستې راماته کړه
ناست يمه په ځای په پنبو شل شومه
شومه ګنهګار توبه مې ماته شوه
څه وکړم چې بيا د حسن غل شومه.

۱۳۶۹/۱/۱۹ روژه ۱۳ شاه شهيد کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشي

ځي دې له مخه د جمال پلوشي

خوري دي هر لور د کمال پلوشي

د پتنګ سوی ګوګل ګوري کنه

ای د جمال ای د جلال پلوشي

کړي رنګينه مې د خيالونو دنيا

چې راکړي دې شي د خيال پلوشي

د سبا ستوري ته رنها ورکوي

د وروځو منځ کې ستا د خال پلوشي

ځسنه قربان دې له جلوځنې شم

لادې زياتيږي کال په کال پلوشي

څوک به دي څنګه مخ ته وکړي نظر

بريښوي ستر ګې دې د شال پلوشي

لکه د ګل هسې تازه اوسه تل

ای د حافظ د قال او حال پلوشي

۱۳۶۹/۱/۲۷

شاه شهيد کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوښکو پشه کال

د کعبې په سر خریږي د تا زلفې

بتکدې کې هم غوریږي د تا زلفې

پرښتو ته جوړ تالونه شي پرې زانګي

چې په ملا باندې زنګیږي د تا زلفې

زه «ایوب» به ستا وفا کړم څنګه هیره

«رحیمې» غوندې خرڅیږي د تا زلفې

د دوزخ د تورو کندو مې دا رنشته

چې مې لاس ته را رسیږي د تا زلفې

مخ دې څه دی جوړ سپورمۍ د څوارلسمې

تور ماران ورنه تاویږي د تا زلفې

پرې را ښکته به داوښکو پشه کال کړم

که په دې را تازه کیږي د تا زلفې

۱۳۶۹/۲/۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمور په کلي

داځه غم دی چې راځي زمور په کلي

څه ستم دی چې راځي زمور په کلي

که په نورو کلیو شي باران د ګلو

راکښته بم دی چې راځي زمور په کلي

په دې غم مو خوالا یخه د چانه ده

وایي کم دی چې راځي زمور په کلي

خونړی سیلاب د مرګ په غوږ زنګو دی

ګوري سم دی چې راځي زمور په کلي

انګولاده فریاد ونه دي ژړاده

لوی ماتم دی چې راځي زمور په کلي

یو غم نه دی چې زمور په کلي راغی

دم په دم دی چې راځي زمور په کلي

که بلا که مصیبت دی نه ځي بل خوا

څه رقم دی چې راځي زمور په کلي

ای حافظه! دغه توره بلا وینې

هو! قسم دی چې راځي زمور په کلي

۱۳۶۹/۲/۳۰

رادیو انصاري وات

د زړه وطن

سړي لمبې د اور به شي انګار به شي خوږلن به شي
مه سړي کوه شوندې چې ایرې د زړه وطن به شي
مه تورې سترګې چې هوسې به ورنه تور وخوري
جوړ له دغه وران کلي مالت ځنې ختن به شي
ځاردې شم قربان دې شم د تللو راته مه وایه
غم د ګریوان نه خووم خیشت په اوښکو پراهن به شي
مه ګوا ښوه وروځې تیرې تورې دې پرې مړه شم
یاره ! در په غاړه غم د غسل او کفن به شي
مه ښوروه دا تورې بلا پرتې ویدې ښې دي
زلفې دې که خوشې کړلې دار به شي رسن به شي
ګلې ! که په دغه آب و تاب ګلشن ته راغللې
ګونګ له حیرانۍ ځنې په سل ژبو سوسن به شي
چرته که یې ولیده زما د زړه د وینو رود
زر ځله بیزار له خپلې مینې نه کوهکن به شي
دا له سوز او سازه د ک غزل چې حافظ ووایه
شور به شي مستي به شي ناره به شي شیون به شي

د مشهور شاعر مُعین سید حسن «حسن» د یادولو په غونډه کې
۱۳۶۹/۳/۱۰ رادیو

د حيرت گوتې

هيره يې نکړئ د جانان کيسه مې بيا را واخلئ

هغه د مينې د ارمان کيسه مې بيا را واخلئ

چې ټول جهان يې اوريدلو ته دی غوږ نيولی

د ليونی څيرې گريوان کيسه مې بيا را واخلئ

چې په گوگل کې گړي پاسته يوڅه د تيرو زړونه

هغه د اوښکو د باران کيسه مې بيا را واخلئ

چې د تنکيو سرو گلونو له مخ رنگ وتښتي

جوړ په سپرلي کې د خزان کيسه مې بيا را واخلئ

چې په زندان کې ورته راشي زليخا د مينې

هغه د مصر د کاروان کيسه مې بيا را واخلئ

چې د حيرت گوتې په خوله کې ورته شي د عالم

هغه د حسن د دوران کيسه مې بيا را واخلئ

۱۳۶۹/۳/۱۷

د فریاد ډیوه

راځئ چې په محفل د چا د یاد ډیوه کړو بله
ډیوې د بنسټ د ویلې د نابنسټ ډیوه کړو بله

راوینئ چې کړو له مخې خوبولې سپوږمۍ ستوري
کوڅوکې د اسمان به د فریاد ډیوه کړو بله

شي جوړه هره خوا به له بنکلا ډکه دنیا
د زړونو په محل کې که د داد ډیوه کړو بله

اباد دې وي په خپله ابادۍ کې تل خوشحال
همت وکړئ چې لږ خود برباد ډیوه کړو بله

شي ورانګې به یې تیرې د شیرینې تر محله
د سروینو په رنګ که د فرهاد ډیوه کړو بله

شي . بچ له تیندکونو به بې شمیره نامراد
که مورو ورته په لاره د مراد ډیوه کړو بله

چې ډیر نه شي دا څیرې ګریوانونه نوراځئ
چې ژر ورته د مینې د بنیاد ډیوه کړو بله

ترڅو به توره شپه وي راخپره زمورو په ذهن
رڼا به شي که چیرته د سواد ډیوه کړو بله

۶۹/۶/۱۲ - رادیو

د حُسن يرغل

چې په غوسه شي کږې وروځي دې خنجر غوندې شي
بانه د ستر گو دې صف ودرې لښکر غوندې شي

چې مې د زړه په تاتره راشي يرغل د حسن
زما گوگل ورته لوی غرشي د خيبر غوندې شي

چې مې د روح په تخته ياد د چاد مينې راشي
اوښکې مې لاړې پرمخ جوړې کړي مسطر غوندې شي

ته چې په لاره قدم کيږدې د رقيب په قدم
نادانه ياره هغه دم په ما محشر غوندې شي

چې بې د ستا له دره ځي په بل در سرلګوي
په دين دنيا هغه بيشکه در په در غوندې شي

هله به هارشي د چاښکلې محبوبا غاړې ته
چې د لاله په شاني تور داغ په ځگر غوندې شي

په اور ژوندی وي او خوراک يې د اورسکروتې
چې را پيدا د اور په منځ کې سمندر غوندې شي

دواړه جهانه ځاروي د نيم نظر له سره
چې د حافظ په شان په عشق کې قلندر غوندې شي.

۱۳۶۹/۱۱/۱۵

راډيو (حافظ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حُسن گلان

مورِه د شعر له کوره ځو خو غزل ځان سره وړو

بلې دیوې د پتنگانو اجل ځان سره وړو

څُه مو چې کړي په دنیا کې هغه دلته پریږدو

بنه وي که بد وي دا ناچیزه عمل ځان سره وړو

چې هلته هم پرې نغري تود د محبت پاتې شي

مور به د مینې د لمبو خپرول ځان سره وړو

پرې لندوو به د سپیرو دبنتو اوږدې مزلې

بس خو همدغه به تو بنه د منزل ځان سره وړ

چې پرې بنیرازه او تازه وي ستا د حسن گلان

د تړمو اوښکو د باران ورول ځان سره وړو

۱۳۷۰

آریانا هوټل د احمد شاه بابا سیمینار

د ځُسن کوڅه

لنډه زمـــا د غم کـــيـــــه خـــونه ده
نيـــــمگړې پاتې ده پـوره خـــــونـه ده
د ستـــار شـرنگ د تپـــو رنگ په کې شتـــه
ورانـه زمـــــا د زړه ديـره خـــــونـه ده
چې د جنون د ســـجـــدو وار پرې نشـــتـــه
درشل د مـــينې دی کـــعـــبـــه خـــونه ده
واک مې د زړه ورتـه پـه لاس ورکـــــــړی
د کـــور مـــيـــرمن ده مـــيلمنه خـــونه ده
هسې ګـــيلې مـــانې ترې څله کـــوئ
ښکلې به وې نو پښـــــتنه خـــــونـه ده
کـــوڅـــه د ځُســن ده تيندک ونه خـــورئ
دا تورې زلفې دې څـــه شـــپـــه خـــونه ده
په ســـره سـالو کې شـوه کـــږه له خـــيـالـه
د ګلو لښـــتـــه راکـــږه خـــونـه ده
پام کـــوه ګـــوره چې پرې تيـــر نه وځې
دا يې سـرې شـونډې دي لمبـــه خـــونه ده
دلتـــه پيـــالې په ســـرو مـــه مـــاتوئ
د جـــانان کـــور دی مـــيکـده خـــونه ده
ريبـــارە وايـه درنـه وګـــرځـــمـــه
درتـه يې کـــرې څـــه ګـــيلـه خـــونـه ده
شـتـــه د حـــافظ زړه کې د ژوند ســـازونه
خـــوشی د مـــو هديره خـــونـه ده

«د يوې طرحې مـــشـــاعـــرې په لړ کې»
۱۳۷۰ راډيو

د حُسن گودر

زیږ غرد مازدیګر یم د سپین غر په سر ولاړیم

بنه نه دې قربان ستا د نظر په سرو ولاړیم

لویدلی یمه نور په توله سیمه ما بنامی شو

یوه شیبه د حسن د ګودر په سر ولاړیم

رسۍ د تورو زلفو دې په لاس کې راکړه

درځارشم مینې هله د کمر په سر ولاړیم

شاید چې شم د حسن نظر ماتې د اشنا

لوګی شوم سپیلنی شوم د محجر په سر ولاړیم

حیران یم نندارې ته د جمال او د جلال

په څوکه د شمشاد د جګ خیبر په سر ولاړیم

مامه پوښتئ که پوښتئ نو جانان مې وپوښتئ

په کومه ګناه هسې د محشر په سر ولاړیم

که ګرمه هنګامه شوله د عشق د قربانۍ

له ټولو به زه څو قدمه بر په سر ولاړیم

۱۳۷۰/۱/۵ کور شاه شهید دوشنبه د روژې ۹ نیټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوښکو ملغلرې

چې بسمل د يار د سترګو په خنجر شي
د جنت تر وره به بې پوښتنې ورشي
هله پورته شي د عرش له کنګروټه
هغه سرچې رانسکور د يار په دوشي
زه به خپله نغمه هيڅوخت سره نه کړم
که سکاره مي په پنجره کې بال و پرشي
هيڅ بلبل به په ګل شور غوغا ونه کړي
که پټنګ غوندې د عشق په راز خبر شي
غوره چاره په اوس وخت له دې نه نشته
هغه څوک چې پوه د مينې په هنر شي
بيا مشکيني زلفې وخنده له نازه
چې د ماغ پرې د عشاقو معطر شي
تر پ لوګی به کړم د اوښکو ملغلرې
که پخلا مې پرې د مينې مرور شي
د همت مټې مې شته کمزورى نه يم
رانسکور مې که د سر له پاسه غرشي
هر فرزند چې زندانې لکه يوسف شي
د کميس بويې د پلار نور بصر شي
چې د شپې د ظلمت تور څادر کې د خيرې
په جهان به لکه نمر هسې انور شي

«د دري ژبې د مشهور شاعر محمد انور
بسمل په ياد» ۱۳۷۰/٤/۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غزل رنبا

غـــــزل ښـــــايست دی هم ښکلا ده غـــــزل
زه يم مـــــجنون زمـــــا ليـــــلا ده غـــــزل
خـــــوب مې غـــــزل ويښـــــه غـــــزل ده زمـــــا
هـم مـې خـنـدا هـم مـې ژړا ده غـــــــــزل
يارانـو تاســـــو چې څـــــه اخلئ واخلئ
بـرخـــــه ازل لـحـنې زمـــــا ده غـــــزل
د زړه لـه کـــــوره مـې تيـــــارې تللې دي
پـــه کـــې ډيـــوه رنبـــا رنبـــا ده غـــــــــزل
رقـــــيـــــبـــــه ! څـله يـې لـوتې راځنې
زمـــــا د تول عـــــمـــــر ســـــودا ده غـــــزل
پـــرون مـــې هـــم د زړه پـــه ويـــنـــو لـيـکـــه
نـن هـم غـــــزل او هـم ســـــبـــــاده غـــــزل
ته کـــــه ښـبـيـــــرې کـــــوې کـــــوه يـې راته
جـــــوړه زمـــــا په خـــــوله دوعـــــا ده غـــــزل
ســـــتـــــا ســـــو دنيـــــا له گلو ملو ډکـــــه
جـــــوړ د حـــــافـظ د زړه دنيـــــا ده غـــــزل
١٣٧٠/٤/٢٦

د ديدن مينه

را په لاس چې د ساقي د ميو جام شي
دغه جام کې مې تمام د ژوند ناکام شي
د تذوير دانې دې ديرې پرې شيندلي
زمانه راته په هر قدم کې دام شي
مرتبه به له دې پورته چرته مومي
چې د بنکليو په درشل کې څوک غلام شي
چې شي سرو په ليونی د ديدن مينه
د ريبار هره ادا د يار پيغام شي
تول اومه په خپل خپل وار باندی پخبري
نه پخبري هغه څوک چې عشق کې خام شي
نيک نامی د هغو کله په نصيب شته
چې په مينه د آشنا کې څوک بد نام شي
د ګريوان ريښې مې هرې خواته زانګي
ددې بنار په ليونيو د چا پام شي
سپورمی مخ له شرمه پټ کاندي په وريځو
رابنکاره چې هغه مياشت په سر د بام شي
د رنګ ساعت ته دې حضورته حاضر يزم
په تکل د مينې سل ميله يو ګام شي
په آرام به مې د زړه د هوس اس شي
ستاد ستر ګو د ورشو غزال که رام شي
دا اثر د کوم نظر دی نپوهيزم
چې حافظ کړي يو د مينې بل «الهام» شي

۱۳۷۰/۵/۱۱

د استاد الهام د ۶۰ کاليزې محفل

د ویرا و غم کوڅه

ته خوراتلې زما پوښتنې ته ستنه ولې شوې
د غمازانو په لمسون رانه خپله ولې شوې
شیرینې ستا له خوږو شوندو خوښات دوریدل
د شمکی د ګوټ په شان راته ترخه ولې شوې
مادې لاس په ښکلې زنه باندې نه ږ ایښې
شوې د ګل پانه له حیانه تکه سره ولې شوې
شمع زما د زړه د کوردې په سلګو پریښوده
د رقیب کورکې راته وایه میلمنه ولې شوې
د مینې ګله : زه دې تل تازه په اوښکو ساتم
د چا له غمه هسې ګمراوې پژمرده ولې شوې
دې غلې شوې تاکې څه د لیونیو چغې
د عشق مالته دا د ویرا و غم کوڅه ولې شوې
زه د فراق د اوږدو شپو تورو تیارو وخورم
ته د پردو بزم ته بله شان دیوه ولې شوې
لنده شه ژړچې مې د یار ستر ګو ته خوب راغلی
ای د حافظ د غم کیسې هومره اوږده ولې شوې

۱۳۷۰/۸/۲۳ رادیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارمانونو دنیا

نوره زما د ارمانونو دنیا مه ورانوی

د د ې تنکو تنکو ګلونو دنیا مه ورانوی

ای د وحشت د اور دیوانو نور چې هر څه کوی

خو د معصومو پاکو زړونو دنیا مه ورانوی

لږ مې د څپې ګریوانه د ریښتیا وې وی

د خوارو زارو امیدونو دنیا مه ورانوی

د شنومه دم د نیمو شپو د تروړمو په برغل

د چا د مینې د خوږو نو دنیا مه ورانوی

زارئ خواږئ ورته کوم بیړته به جوړه نه شي

وا د شاعر زړه د خیالونو دنیا مه ورانوی

ای د خزان ترخو سیلیو د سره ګل په زړه کې

د څو خوږو خوږو یادونو دنیا مه ورانوی

پریږدی چې جوړ مې ګریوانه کې توپانونه شي ترې

زما د اوښکو د رودونو دنیا مه ورانوی

د ډډن لاوې

مـــيـنې جـــورې ســـتـــا په رضـــأ چارې شـــوې

خـــــلاصې د اشنا د ډډن لارې شـــــوې

اوښـــکـــو مـــې د چـــا د راتـــلـــو واوريـــده

ودريدلې ســـتـــرګـــو کې حـــصـــارۍ شـــوې

تيـــــره چې ښکالو شـــــوه د ريبـــــار د يار

هـيـلې خـــــوبـولې وې بـيـــــدارۍ شـــــوې

واخـــســـتـــه جـــذبو مې د همت امـــســـأ

پورته له بســـتـــر ځنې بيـــمـــارې شـــوې

څـــومـــره يې چې تنده کـــره تروه په مـــا

شـــونډې يې خـــورې شـــوې مـــزيدارې شـــوې

خـــيـــر د ډډن غـــوارې درويزه کـــوې

هومـــره د مـــينو برخې خـــوارې شـــوې

جـــور چې د غـــزل بازار حـــافظ کـــړلو

ښکلې يې له مـــــخې خـــــريدارې شـــــوې

۱۳۷۱/۱/۱۹

وزير اکبرخان پارک

کابل ته

ستا د زړه په خوږ پوهیږمه کابله
چې سم تاسره ژړیږمه کابله
زما روح زما بدن یې زما کوري
ستا د خوږ سره خوږیږمه کابله
داکوم اورچې نن د ستا په لمن بل دی
زه هم دې اورکې سوزیږمه کابله
د مرګ سیوری دې فضا په سر اخستې
په تا هسې رنګ ویریږمه کابله
یوله یوخوا بل له بلې په تابلوسې
دغه کار ته حیرانیږمه کابله
د افغان د اتحاد لویه مرکزه
که ته وران شوې زه ورانیږمه کابله
که په بن دې د خزان سیلی شوه ګډه
لکه ګل به ورژیږمه کابله
چې د ستا په وجود هره ګولی لګي
لکه زه چې پرې لګیږمه کابله
دنیا څه کړي او اخته یو مور په څه کې
د خپل ځان پورې شرمیږمه کابله
خرسیلاب د پسرلي دی سیند کې درومي
د رنګ ساعت په کې دویږمه کابله
ستا د غم غشي مې لک د زړه په سردی
د ریدی نه شمه لویږمه کابله.
۱۳۷۱/۲/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل ګلونه

د اوږې په سرو لمبو سوزیږي د کابل ګلونه

د پسرلي په وخت وژیږي د کابل ګلونه
راغله بې وخته پرې سیلي د څه نا ترسه خزان
داسې چې مړاوې مړاوې ګیږي د کابل ګلونه
بلبله خواره ته په څه ځیرږند وزړې شکاري
د چا وربل ته نه رسیږي د کابل ګلونه
د ویښو رنګ د ویښو بوی پدکې خپله پروت وی
چې په سرو ویښو راتوکیږي د کابل ګلونه
دا د مالي له لاسه شوې نا پرسانه ښاره
نن چې وړیا تاکي خر څیږي د کابل ګلونه
څوک څه خبر دي پدې وخت زما د زړه له اوره
چې ورته ګورم تالا کیږي د کابل ګلونه
دا خو یوې څه په مزار د شهیدانو نه دي
د زړه د اوږې په تاوبلیږي د کابل ګلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوريدلې پرې د چا د مباتم اونښکې نه دي
په خپلو اونښکو کې لمبيږي د کابل ګلونه
ماته زما د زړه ټوټه ده هره پانه د ګل
تاته به څه رنګه ښکاريږي د کابل ګلونه
چې پټوي په مړاو پاتو کې خپل زېر مخونه
دا خو په ځان پورې شرمېږي د کابل ګلونه
ماته صفت څله کوې ته د جهان د ګلو
خدايږو چې دير دير مې يادېږي د کابل ګلونه
هغه زما د مينټوب د يارانې زيباران
کله زما څنې هيريږي د کابل ګلونه
«حافظ» به نه وي که بيا راشي پسرلی د ژوندون
يو په چې بيا پرې وغوريږي د کابل ګلونه

۱۳۷۱/٤/٥ کور شاه شهيد

د ورځې دوه بجې

څله راتلې

چې مې د زړه درد ته د وانه شوې نو څله راتلې
مرور یاره چې پخلا نه شوې نو څله راتلې
ستا په راتلو مې د تور بخت تر وړمې لا زیاتې شوې
چې تورې شپې ته مې سبا نه شوې نو څله راتلې
غم دې زما بنادي نوروته په برخه کړله
زه به دې څه کړم چې زمانه شوې نو څله راتلې
دې خپل د عمر ژړیدلي کړیدلي سره
چې تش له نازه په موسکانه شوې نو څله راتلې
ماوې راتولې به ریښې کړي د مجنون د ګریوان
د حسن میرې چې لیلا نه شوې نو څله راتلې
د سر ببرو تالا شوو لیونو په مینه
چې کور او کلي کې رسوا نه شوې نو څله راتلې
په آخرت کې خو بیل بیل دي دهر چا کورونه
نن چې په کار مې په دنیا نه شوې نو څله راتلې
ما ستا په مینه کې لیدل د پاچایۍ خوبونه
په سر مې سیوري د هما نه شوې نو څله راتلې
چې یې راغلې په کوم لار ورسره بیرته درومه
چې له رقیب ځنې جدا نه شوې نو څله راتلې
تالا ترغې د «حافظ» خواري زاري هیلې شولې
چې ته خبر په دې تالا نشوې نو څله راتلې
۱۳۷۱/۵/۳
کور شاه شهید کابل

مورِ چا مړه کړو؟

نه زلزلې او نه توپان مړه کړو
ولې د اور راکټ باران مړه کړو
داسې کاپړو او پردو مړه نه کړو
لکه چې خپل ورور مسلمان مړه کړو
عرض به د چا دربار ته ورسړو
په دروازه کې چې دربان مړه کړو.
څه به کړو خلکه له غلونه ګیله
مورِ خو څاروان د دې کاروان مړه کړو
ځمکې هم راوسته په مورِه مرګو
که آفتونو د اسمان مړه کړو
غریبو مړه نه کړلو خوارو نه کړو
مورِ امیرانو د دوران مړه کړو
لیوانو ونه خوړو مات یې نه کړو
خو د انسان په نوم انسان مړه کړو
وې به ضرور د غمازانو لمسون
داسې له مخې چې جانان مړه کړو
د چا د زهرو په ترخو مړه نه شو
خورو خبرو خورِ بیان مړه کړو
چې دین یې ورکړ د دنیا په بدل
بس خو همدغه بې ایمان مړه کړو

په ژوند مې ولیدې لمبې د دوزخ
د وخت بې وخته امتحان مره کړو
د ژوند سپرلي ته مې خندلي نه و
تنکي ګلان وچې خزان مرا کړو
قرباني نه شو د وطن له سره
شخصي قدرت ګټې د څان مره کړو
چې د وحدت لاره مو پرې نښوده له
بیلتانه وغرور هجران مره کړو
چې لیونې وریږې هم خاندي
هغه دلیل هغه برهان مره کړو
پوره به نه شي تر قیامته پورې
خوشې وعدو چې پیمان مره کړو
کورښو هم په مور صرفه ونه کړه
که نا بللې ئان مهمان مره کړو

۱۳۷۱/۸/۱۰ رادیو کابل

انصاري وات

د تصور کښتی

دا دنیا راته د اوښکو سمندر شوه

په کې دوبه مې کښتي د تصور شوه
د ساحل په هیله نیکته پورته غځلم
رانه عشقه اورکه ننبه د ګودر شوه
په دریاب کې د سراب په لور روان یم

په هر موج مې تنده ماته د نظر شوه
دا د کوم بانه شیتی وه نپیږه یم
چې رسا مې هسې خنبه په ځګر شوه
میلمني مینې مې څه کاني راوکړې

یوځل راغله د زړه کورته بیا بهر شوه
چې داستا د زلفو شپې په اوږدیدو شوې
افسانه زما د مینې مختصر شوه
زه حافظ چې دا په چغو چغو ژاړم

برخه خواره نن سبا کې د هنر شوه

۱۳۷۱/۹/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیرۍ امسا

د ځوانۍ شپه مې سمسا راته پیرۍ کړه
لار تیاره وه خورنا راته پنیرۍ کړه

د پرون د ځوانۍ خیال مې خندنی شو
را په لاس چې نن امسا راته پیرۍ کړه

چې هوس د زلمیتوب مې د روغ بلله
هغه چاره اوس رښتیا راته پیرۍ کړه

چې په عمر مې لیدلې چرې نه وه
پینبه هسې شان سودا راته پیرۍ کړه

جورکسات مې د شباب له مستۍ اخلي
دا چې مساته هسې ملا راته پیرۍ کړه

په هر رود ژوندانه راته ولاړه
را دوچاره څه بلا راته پیرۍ کړه

آه ، فریاد ، ژړا ځیګروي مې شو په برخه
وچه شوندو کې خندا راته پیرۍ کړه

چې په خوب او په خاطر مې تیره نه وه
نا آشنا کیسه آشنا راته پیرۍ کړه

د هجران په اوږده لاره مې حافظ ته
په مرۍ کې بنده ساه راته پیرۍ کړه

۱۳۷۱ /۹/۲۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کابل چیرته دی؟

ملګرو! تاسو چې لیده هغه کابل چیرته دی؟
ازغی ازغی دی چمن ټول په کې یوګل چیرته دی

چې به له خیاله په کې اینبی و سل رنګ ګلونه
په کروورځو خور له نازه تورو وربل چرته دی
چې پتهوي لالهلهشرمه تري د زړه داغونه
بس خو همدغه زما زړه دی ګرانه بل چیرته دی
دي تورکارغان راخواره شوي په سپیرو باغونو
هیڅوک نه وایي چې په زړه سوری بلبل چیرته دی
زمانه څومره بې حیا شوه ورته فکر وکړئ
په زوره زوره غل ناري وهي چې غل چیرته دی
چې به کیدې په کې هر خوا مظاهري د حسن
هغه پتنګ هغه ډیوه هغه محفل چیرته دی
مور خوارو زار و چې د مینې کوه طور بللو
په سرو لمبو کې ایره پروت هغه محل چیرته دی
پام چې تیر نه وځی آشنا پرې لږ څه سوچ په کاردی
خبرې ډیرې دي د خولې خوشې عمل چیرته دی
راروان شوی یم د مینې د منزل په تکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمزوري پښې مې منزل ستړې کړې منزل چيرته دی
تالاترغې د پښتانه حُسن جونګړه پرته
هغه اوږې هغه ښکلې هغه هیکل چیرته دی
پېغلو اغوستې دي د غم توري جامې له مخې
د سرو پورنو د ګودر په سر وربل چیرته دی
چې دې ستایلې وي غزالې سترګې د يرې په کې
شاعره ! ستا د زړه په وینو لیک غزل چیرته دی
رحمانه ! اوس حافظ په در ، درته ځولی غوروي
بې ستا له دره بې د خوږ زرګي تسل چیرته دی
۱۳۷۱/۱۹/۲۹

کله چې له کابل نه د خپلې کډې سره د یو وخت لپاره
جلال آباد او بیا پیښور ته تلم .

چې له کابله راوتم

چې له کـــــــابله راوتم نیو ژړیدم راتلم
په سـرو لمبـو کې له حـــسرته سـوزیدم راتلم

بنـه پوهیـدم چې د بیلتـون د بلا خـولې ته ورځم
د مـــینې لاره په کې هیڅ نه ویریدم راتلم

د زړه ارمان مې وارته خاوري شـو د خاورو سره
چې د الفت د مـزار خـواکې نیـــریدم راتلم

چې په ګرلو شهدې شناختې مې له ستر ګو څرلې
په غـــرولو بینا ســـتر ګـــو رندیدم راتلم

په سـر مې بار زاوړه د ژوند د ناخـوالیـو ګـډه
د بېرمکې غمـلوندې له غـــمـــه تاویدم راتلم

چې مې کـــتل په هره خـوا تازه تازه زخـمـونه
لکه لاله د زړه په وینو لمبـــیـــــدم راتلم

د سـوزیدو د ورکـیـدو سـوزڼ مې نه وه زړه کې
وم یو پتنګ په سـر د شـمـــعې چودلیـــدم راتلم

غمکه له لاندې وه سره شوې آسمان پاس سور وه
خـام پاتې نه شـوم په ډې اور کې پخـیـــدم راتلم

د وصـــال لمر مې چې له سـره وانګې وارولې
د شګې ګل شـــوم له نظر ورکـــیـــدم راتلم

۱۳۲۱/۹/۲۹

کابل پلچرخي

جلال آباده !

جلال آباده تاکې هغه جوش وجم نشته

جام دې پریوتی دی نسکور ځکه چې جم نشته

چې پریوتل به یې پښوکې دیر مغرور سرونه

هغه د حسن په غرور غره صنم نشته

چې نڅیده ورته سرتوره درخانی دمینې

هغه د سوز نغمه رباب کې د آدم نشته

راشه مسیحه ! دې دخدای مخلوق ته دم وښنه

بې دمه مړه زړونه پراته دې په کې دم نشته

د حاتمانو د کرم دروازې پورې وینم

یوه ذره یې کورکې ننبه د کرم نشته

جوړه به خود رائې زما په خوله د غم سندره

داسې کور نشته چې ناري په کې د غم نشته

هسې چې وګوري د څیرو ګریوانونو خواته

رحم د چا سره په زړه کې هومره هم نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خزلې شته دي ازغي شته چې پرې ږندېږي سترګې

خـــزان وهلي ټول ګلونه ســـتـــا د چم نشـــتـــه

چغې ناڅې دي فـــريادونه دي ځـــيـــګروي وړســـره

زخـــمـــونه شـــتـــه دي خـــو ســـودا يې د ملهم نشـــتـــه

چې په ژور نظر مې وکـــــتل د وخت ملګري

لکه مـــاران کـــاږه په لاره درومي سم نشـــتـــه

چې يې د غم اوږده کلونـــه په ژړا تيـــر کـــړي

ســـتـــرګـــو کې اوښکې وچې شـــوې په کې نم نشـــتـــه

د شـــرارت خـــواتـــه حـــافظه تل په منډو درومي

چې شي اوچت د خـــيـــر په لوري يو قـــدم نشـــتـــه

۱۳۷۱/۹/۳۰ د جلال آباد

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا غزل

تول محفل غزل غزل دی خو ساقي بيت الغزل دی
دين دنيا زمور نه اخلي عشقه دې کې دې هم چل دی
چيرته داشلې پاپې او چيرته ستا د ديدن لارې
کله غورځم کله پرځم د ميرې په پله مزل دی
بيلتانه وچې ميرې دي د وصال کعبه ده لرې
د ارمان د حاجي زړه مې د احرام کړی تکل دی
د جمال په مال مغروره دم قدم په احتياط وده
په دې وخت دې زمانه کې هر سړی د حسن غل دی
خبر نه يم نه پوهيږم چې پرې توله دنيا سوزي
که د مينې اور سوازې بس زما په زړه کې بل دی
چې قبله د تول عالم او سجده گاه د پرښتبو ده
دا محل هغه محل دی دا درشل هغه درشل دی
قربانی د محبت ته چې له تولونه اول ځم
نوم د يار په خوله اخستی ماله تولو نه اول دی
گفتار هغه وخت گفتار شي چې کردار ورسره مل شي
بې کرداره گفتار څه دي بې فايدې خوشې عمل دی
سرمې ځارشه ورنه تيريم نن ورځم د يار کوڅې له
که ولاړ په هر قدم کې راته جوړ تيار اجل دی
چې حافظ د زړه په وينو د کاغذ پرمخ ليکلي
«بختانيه» که غزل دی نو همدا غزل غزل دی
۷۲ کال د حمل مياشت کله چې د خيبر په دره کې د پيښور
خواته روان وم نو د استاد حمزه صاحب د کور سره نژدې
ددغه غزل مطلع راغله .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوه نه شوم

نه په خـــــزان نه په بهـــــار پوه شـــــوم
نه په راتللـلـو د نـگـار پـوه شـــــــوم

تر اوســـــه په خـــپله گناه پوه نه وومـــــه
ایلـه چې اوس پـه ســـــر د دار پـوه شـــــوم

نـه يـې د وصـل د خـــــــورو پـه هـيـلـه
نـه د بـيـلـتـــــون پـه انـتـظار پـوه شـــــوم

نـه راتـه يـار د مـــــــيـنـې راز ووايـه
نـه په خـــبـــره د ريبـــار پـوه شـــــوم

نه بهـــرمند شـــوم د ســحـــر لـه فـيـضـه
نـه د بـلـبـلـو پـه چـغـــــار پـوه شـــــوم

حـــيـــران يم خلکه چې اوس څـــه وکـــړمـــه
نـه پـه اقـــــرار نـه پـه انـکـار پـوه شـــــوم

چې د غـــوتې شـــوندو کې وينې راغلې
نـو د اغـــــزيـو پـه آزار پـوه شـــــوم

حـــافظه تـيـــرې شـــوې اوبـه لـه ورخـــه
اوس کـــه پـه لمســـه د اغـــيـــار پـوه شـــوم

۱۳۷۲/۱/۱۹
کور تايمني کابل

دريدلې قافلې

ولې ترپښو په نيمه لار کې قافله پاتې ده
لا تر منزله پورې ډيره فاصله پاتې ده
لامو په مخکې ډيرې شته دي د تور مرګ مرحلې
ستړې ستومانه چې له تګه راحله پاتې ده
د بيلتانه د تورو غرو سلسلې نه لنډيږي
زمور ترمرګه پورې دغه سلسله پاتې ده
زما ځګيروي آه و فرياد دې ناراحته نه کړي
دې رنځور زړه کې نوره کله حوصله پاتې ده
نورو د نور شراب په سر کړل خو ما خوار غريب ته
ډکه له زهرو ځنې بس يوه پياله پاتې ده
زما نصيب کې دوزخونه سره اورونه ليک دي
که ستا په لاس کې د فردوس قواله پاتې ده
د محتسب له احتسابه ورته چا ويلي
چې د مينا مړی کې بنده قلقله پاتې ده
زه د هغې دنيا حساب کتاب ته نه يم تيار
په دې دنيا کې لاجره معامله پاتې ده
بس د رنګ شيبې ته به تياره شي د محفل په محل
شمع د مرګ سلګی وهي يوه شغله پاتې ده
غمازه پام چې په سپينو ډکو تيرنه وځې
ځوانه مې زړه کې لا د مينې ولوله پاتې ده

۱۳۷۲/۵/۹

د پیرنو د یوې

زمـــوږ د خـــوارو امـــیـــدونو د یوې څله وژنی
د دې تـنـکـو تـنـکـو ګـلـونـو د یـوې څـلـه وژنـی
صله د رحم ده په کـــار د غـــریبـــانـو ســـره
په تور مـــانښـــام یې د بـخـتـونـو د یوې څله وژنی
تورې تیـــارې به راخـورې شي د جـهـــان په کلي
د دې رنځـــورو زخـــمي زړونـو د یوې څله وژنی
چغې فـریاد به مـو له ستـورونه خـوب وتښتـوي
په نیـمـو شـپـــو مـو د خـوبونـو د یوې څله وژنی
پریږدئ چې تتې خـاطرې مـو وي د مـیـنې ژوندي
بلې د عـــشق په مـــزارونـو د یـوې څله وژنی
د بې ګناه قـــتل ګناه به در په ســـرشي ګـــورئ
د دې شـاعـــر زړه د خـیـالونـو د یوې څله وژنی
ارمـان په خـوا به پتنګان په بیـــرته لاړشی ورنه
زمـــوږ د مـــیـنې د بزمـــونـو د یـوې څله وژنی
لاندې په ځـــمکه درنه بله د یوه پاتې نه شـــوه
پاس په آســـمـــان کې د پیـــرنو د یوې څله وژنی
یوځلې نه په څـــوځـــو ځلې دې وژلې ورته
بیـــاد حـــافظ د ارمـــانونو د یـوې څله وژنی
۱۳۷۲/۶/۲۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وريځو پلو

چې شـــيـــدا په بنکلي مخ د ګل اندام شـــوې

ای ٔ بلبله! د ګل نه شـــولې د دام شـــوې

نړوي چې د ايمـــان د کـــعـــبې خـــنبـــتې

ای ٔ زمـــا اســـلامـــه داځنګه اســـلام شـــوې

مـــاته اينبی ډک کنډول مـــخکې د وينو

ته مـــخـــمـــور لکه فـــغـــفـــور د چا په جـــام شـــوې

مـــا اخـــســـتی په ســـر ســـتـــا د مـــينې تورډی

وايه ته د چا په مـــيـــنه کې بد نام شـــوې

ســـپـــورمي مـــخې ته د وريځـــو پلو وينو

رانبکاره چې ته بيګا په ســـر د بام شـــوې

د دوزخ د اور لمبې بـــه دې پـــوخ نـــه کـــا

کـــه يوځلې د جـــانان په مـــينه خـــام شـــوې

يوه نيت په شـــرق تړلی بل په غـــرب دی

ته لا راغلې په مـــحـــراب ورته امـــام شـــوې

۱۳۷۲/۷۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وفا فیصلې

د ښکلو په جرګو کې فیصلې د وفا کیږي

اوس ګورو به مجنونه چې لیلا به د چا کیږي
ده ګوته د حیرت ورته دنیا په خوله نیولې
آشنا! د ستا له لاسه چې کوم ظلم په ما کیږي
وعده دې په ټول عمر د دیدن نه کړه پوره
جانانه! تاخو ویلې چې نن کیږي سبا کیږي
دژبې په سر راشي خو د زړه له تله نه وي
ای یاره! چې ښیرې درته کومه دوعا کیږي
زړه ټینګ شه د مینو ستر ګو جنګ دی پام کوه
په دې کې د ښه د سنګینو نو غزا کیږي
حافظه دا دستور دی چې مدام په محبت کې
نازکیږي مکیز کیږي د خوبانو اداکیږي

۱۳۷۲/۹/۲۳

د جانان غيبرې ته

د زړه ماشوم مې هوسيبرې د جانان غيبرې ته
هغه د مينې محبت د خوږ جهان غيبرې ته
چې ئې د زلفو توره شپه کې کړي رناخالونه
ستوري تل ځان رسوي شپه کې د اسمان غيبرې ته
په کار د مينې د وفا هيله تري نه ده په کار
رسيدی نه شي بې ايمانه د ايمان غيبرې ته
چې له کافره ئې هم کلک زړه په گوگل پروت دی
ځان مې ورواچاؤ د هسې مسلمان غيبرې ته
دلته چې راغی لوی ناتار پرې د بې وخته خزان
بلبلان ځي د نا آشنا غوندې بوستان غيبرې ته
کيسه د مينې ئې خپره شوه د آسمان په کلي
مجنون چې ووته د عشق د بيابان غيبرې ته
بې گناهي ئې زليخا ته شوه څرگنده هله
يوسف چې ولوېد د تورونو د زندان غيبرې ته
په ځان مغروره فکر وکړه ليونی خونه ئې
ورغورځوې چې ځان داوښکو د توفان غيبرې ته
د خوار ژوندون د ناخوالیو کډه بار په ولو
ځان رسوي د مهاجرو د کاروان غيبرې ته
په افغاني غرور مې بلې د سره د اور لمبې شوې
په تيتو ستر گو ور روان د اين و ان غيبرې ته
چې ئې په مينه يو مظلوم هم په کې ونه نيوه
حافظ حيران دی د دې هسې رنگ انسان غيبرې ته
۱۳۷۲/۱۱/۱۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

چیرته لاړشو

په هره خوا اور راته بل دی مورِ به چیرته لاړ شو

په سرو سګرو توکې مزل دی مورِ به چیرته لاړشو

د مرګو سیوری مو مودام په سرو چترګرځي

قدم قدم کې ناست اجل دی مورِ به چیرته لاړشو

رانه ئې لوټ کړ سر او مال اوس په بل غم اخته یو

په ملک راغلی هسې غل دی مورِ به چیرته لاړ شو

دا نن چې سوزې ایره کیږي د اور شرولمبو کې

دا خو هغه بنکلی کابل دی مورِ به چیرته لاړشو

یوه خوا پاڼ بله خوا پرانګ راته غابنونه چیچي

زمورِ له حاله سم متل دی مورِ به چیرته لاړشو

دومره ځای نشته چې څوک سرور لاندې سیوري ته کړي

وطن د سرو وینو مقتل دی مورِ به چیرته لاړشو

۱۳۷۲/۱۲/۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غزل زليخا

بابا د ستا په مرګ باندې دنيا د غزل مړه شوه
مجنون د غزل مړشو هم ليلا د غزل مړه شوه
په شونډو د پښتو د يتيم شوي شعر پلاره
خندا د غزل مړه شوه هم موسکا د غزل مړه شوه
چې ؤ ستا د غزل د رنګينيو کوه طور
سينا غوندې خيبرکې دې رنا د غزل مړه شوه
چې نشته په رخسارئې آرايش د تغزل
په سترګو د مينو کې ښکلا د غزل مړه شوه
شوې ورانې ميکدې خمان نسکور نه دی عجب
ساقي د ستا په لاس کې که مينا د غزل مړه شوه
ماوې چې د ادب په اقليم شوی څه ضرور
تسبوکې د زاهد چې نن دوعا د غزل مړه شوه
شايد وې دا خبر هم لګيدلی ستا په غور
مطربه ! چې په ساز کې دې نوا د غزل مړه شوه
خيبره ! ستا د کلي او مالت د ليونو
بې وخته هغه شور هغه غوغا د غزل مړه شوه
مرګو راغله محل ته د غزل د ښا پيرو
پوښتنه رانه مکړه چې د چا د غزل مړه شوه
چې ستا مرګوني ژوند ته ؤ د عصر مسيحا
پښتو هغه طبيب هغه دوا د غزل مړه شوه
شاهين ئې په غم دود شو د شمشاد د سر درو
ژوندي زلمی وزرکې ئې هوا د غزل مړه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مـحـفـل راتـه نن سـوړ ښکاري د روم او د تـبـريز
سـوز مړ شـو د حـمـزه سره صـفـا د غـزل مړه شـوه
سـتـومـانـه زمـزمـه کې وايي دا روح د اقـبـال
خـيـبـر کې يوه ښکلې ډيوه بيـا د غـزل مـړه شـوه
راحـتـه! د پښـتـو د مـعـاصـر غـزل امـامـنه!
څه وشـو سـتـا له وروسـتـه اقـتـدا د غـزل مـړه شـوه
ايـلـه چې اوس راغلې وه په څـنـو په وربـل
« ناظره » هغـه پيـغـله په ربښـتـيـا د غـزل مـړه شـوه
« مـاهره ! » هله ورشـه د « خـاطر » په هديره
خبر ورکړه چې مړه شوه ښکلې ستا د غـزل مړه شـوه
« رفـيـقـه! » دا په څـه شـو د شنوارو بزم سـوړ
رباب وائي پردو کې مې شـرنگا د غـزل مـړه شـوه
چې نه شـتـه په کې مـتـره د پرون د زړه راکښـون
د حـسـن اننگو کې غـوړيدا د غـزل مـړه شـوه
د اوښکو کـاروانونه څې گـريوان ته د کنعـان
نن مـصـره ! په خـيـبـر کې زليـخـا د غـزل مړه شـوه
« مـرادە » شي تيـارە بە د خـيـبـر د ادب کـور
رڼادې کـه په کـور کې د بابا د غـزل مـړه شـوه

۱۳۷۲/۱۲/۱۸
کابل

يادونه : د بابای غزل استاد حمزه شينواري په مړينه

داڅه ورځې دي ؟

په تیریدو مې د ځوانۍ ورځې دي

مل مې د ژوند د ستومانۍ ورځې دي
امسا په لاس په کږه ملا ګرځمه
راته څیرمه د پریشانۍ ورځې دي
شبابه تیر لکه بریښنا غوندې شوې
راغلې اوس د حیرانۍ ورځې دي
په وریدو مې دی اسمان د سترګو
موسم بدل شو بارانۍ ورځې دي
د ځوانۍ ورځې رانه لاړې خوشې
اوس راڅیرمه د پښیمانۍ ورځې دي
د مینې یار چې راته نه ګوري سم
د غیر غماز د شیطانۍ ورځې دي
تاته ئې رخ د ودانۍ راوړی

په مـــــــــا راغلـې د ورانـۍ ورځـې دي

مـــــاته په هر قـــــدم کې غم پاځـــــوي

ستـــا په نظر کې ســـيـــلانۍ ورځې دي

بيـــــه د هرشي جـگـه شـــــوې ډيره

خـــــود ســـــعـــرو د ارزانـۍ ورځـې دي

چې د جـــانان په درکې نه قـــبليـــــږي

عـــبث زمـــــور د قـــربانـۍ ورځـې دي

گـــوره چې رنگ او خـــوند به ځـــوک ترې اخلي

وينې د ســـتـــا د مـــهـــمـــانۍ ورځـې دي

پل به د غـــيـــرو په کې پرې نه ږدمـــه

مـــينې د اســـتـــاد دربانـۍ ورځـې دي

۱۳۷۲/۱۲/۲۶

کابل

درنه ځم

د څو ورځو مهمانُ یمه جانانه درنه ځم
زړه تنګ نه کړې قربان دې شم میزبانه درنه ځم

تړلې د ژوند کډه د رنګ شیبې ته په سر یږدم
مکانه درنه تلونکی یم زمانه درنه ځم

راغلی چې وم بې سر او سامانه په کوم رنګ
په هغه رنګ به بې سر او سامانه درنه ځم

نه مینه د بلبل او نه بنکلا شوم دوربل
یو ګل یم رژیدلی ګلستانه درنه ځم

حسینه! ماه جبنیه ! نوردې نه حیرانوم
آئینه دې شومه حسن ته حیرانه درنه ځم

راوښتی یم په جګو جګو غرونو د بیلتون
راغلی یم ستومانهاو ستومانه درنه ځم

دا نن دی چې له خیاله هسې زلفې کړې پریشانه
جانانه! زه هم داسې پریشانه درنه ځم

ای ګُیاره ! رخ مې ومنه د څیرې ګریوانه
راغلی بنه هوښیار وومه دیوانه درنه ځم

حافظ هیله راوړې وه د بنکلو د دیدار
دیدار ته دې پرې نښودم د ربانه درنه ځم

۱۳۷۲/۱۲/۲۶

آسماني سروش

لکه چنجي چې د وريښم له ګيډې تار باسي
شاعر له نسه د شعور داسې اشعار باسي

لکه چې ايښی غوږ سالک وي آسماني سروش ته
داسې شاعر الهام د عشق ته انتظار باسي

زه به تر هغو پورې ژاړمه د يار په درکې
څو چې ګريوان کې مې د اوښکو ويالې لار باسي

بنده د عشق يم زه په دې کې اعتراض څه لرم
که د غلام غوندې مې مينه په بازار باسي

زما زړه هم داسې غوږيږي په بهار د وصال
لکه ګلونه چې غندلي په بهار باسي

چاته فرياد وکړم او عرض د چا په درکې وکړم
چې بې ديدنه مې د عشق له کلي يار باسي

که حال يې ګورئی خلکه راشئ ګونګسې دي هسې
چې د رنګ شيبې ته به حافظ په سر د دار باسي

۱۳۷۲/۱۲/۲۷

تايمني کور

کابل

د سترګو راکټ

د يو شاعر جنازه وځي د کابل له بنباره

د ويرنغمي راپورته کيږي د غزل له بنباره
مورږ په خپل ژوند د نيک مرغۍ شيبه ونه ليدله
مورږه راغلي بد بختان يو د ازل له بنباره
خپل سره لاسونه به زندۍ کړي د قاتل د مرۍ
که يو ژوندی چيرته راستون شو د مقتل له بنباره
د نظر سپورمي ستا د سترګو د راکټ له زوره
د زلفو کورته مهاجر شو د وربل له بنباره
چې پرې رندې شبې د يارانو مهربانه سترګې
ځي د اغزيو سوغاتونه اوس د ګل له بنباره
چيرته به ومومي د امن د سارا لمنه
دېرې ماشومې کډې بار شوې د اجل له بنباره
دېر غريبان پې آواره کړل درپه دره ګرځي
خو ورک يې نکړ دومره زور سره يو غل له بنباره
حافظه پوه به شو هله د سپرليو په خوند
که دا کارغان چيرته بهر شول د بلبل له بنباره

۱۳۷۱/۳/۱۳

تايمني کابل کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرګ چاړه

د مـــرګ چاړه مې په مـــرۍ باندې اغـــيـــار اينبې
کله اغـــيـــار اينبې ده بويه چې مې يار اينبې
چاته ګلپـــوش مـــوټر ولاړ وي ناوې کـــورته بيـــايي
چـاتـه ګـلـر نـګـه جـنـازه پـه اوږو بـار اينبـې
د وخت د جـبـر حکومت دی جـاري شـوې دلتـه
کنه چا مـــرګ ته غـــاړه کله په اخـــتـــيـــار اينبې
ډيرې ناويـاتې نامـــراده ځـــواني مـــرګې شـــولې
بنـارسي يې جنډه شـــوې په مـــزار اينبې
هره خـــوا چغې فـــريادونه دي د کـــونډو مـــيندو
په زخـــمي زړه باندې پټې د صـــبـــر پلار اينبې
چې په سـرو شـونډو د غـوټيـو کې مـوسکا وچه ده
نـاغـــه د وينـو په ســـرو ګلونو بهمـــار اينبې
د درد له زوره چې مې ســتـرګې بيـخي نه غـړيږي
د غـم دنيـــا راته په ســر کـــوم ســـتم کـــار اينبې
د وخت مـــومنه رارســـيـــږه برید په کـــاردی درته
جـوړ د شـهې دولۍ په خـوله کې د بنـامـار اينبې
د ژوند بازار راته ســـوړ بنکاري خـــريدار نه لري
د مـــرګ مـــتـــاع قـــدم قـــدم کې په بازار اينبې
چاته لګيـــږي په ســـينه غـــشي د چا د جـــبـــر
چا د منصـــور غـــوندې ځـــوانۍ په ســر د دار اينبې
برات د مـــرګ يې دی راوړی د حـــافظ د قـــتـل
نن چې د خـيـــال کـــږه خـــولۍ په ســـر ريبـــار اينبې

۱۳۷۱/۷/۲۹/

کابل تايمني کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرګ انتظار

یم انتظار چې به د کـــوم راکټ په اورکې ســـوزم
دا زه کمزوری خوار غریب به په کوم زورکنې سوزم
چې په کـوم ځای کې ئې د قهـر او غـضب اور ولګي
هلتـه کـه نور په کې سـوزیږي زه په کـورکې سـوزم
په دې دنیـــا کې دوزخ جـــور شـــو له جنتـــه راته
مـخکې له حشـره زه د دې دنیـا په گـورکې سـوزم
مـــا خـــومـــیږي هم د پل لاندې آزار کـړی نه دی
خـدایه ! دازه مـسکین د چا د وینو پور کې سـوزم
د بیلتـــون اور د هرمـــین د زړه په خـــونه بل دی
کنه یواځې زه دا ســتـــا د مـــینې تورکې ســـوزم
د خـدای لپـــاره رامـدد شئ دا د چا په عـــشق کې
لمبې مې جگې شـوې له ســره په پیـغـور کې سـوزم
کـــه د هجـرت په اور یم ســوی زړه مې تاســره دی
کـــه ته ســوزیږې په کـــابل زه په لاهور کې ســوزم
داچې کـوم شـور گډ شـوی ستـا د ژوندانه په مـحل
در ســره سم جـــانانه زه په د غـــه شـــورکې ســـوزم
په یوه ځـــای په یوه ســـیـــمـــه باندې نه بلیـــږي
دا داسې اوردی چې همیش پرې په هرلورکې سوزم

۱۳۷۳/۹/۳
کابل

د زړونو کور

اوړونه را زرغون شول د ګلونو په هیواد کې

میلمه شو محرم د اخترونو په هیواد کې

قدم قدم کې رنګ خپور شو د وینو هره خوا

د مرګ تیاره غوړیږي د رنګونو په هیواد کې

نور هرڅه شو قیمته بې وزلان اخته په غم

بې مثله ارزاني شوه د سرونو په هیواد کې

خندا په شوندو وچه شوه ژړاده هره خوا

یو ویر دی هر طرف ته د غمونو په هیواد کې

وطن ته مو راغلې خرابی دی رنګ په رنګ

خراب دی له بل هرشي کور د زړونو په هیواد کې

طبیب نه شته حبیب نه شته د زړونو د علاج

فریاد شو د غم یاد شو د رنځونو په هیواد کې

حافظه ! د حیرت په ستر ګو ګوره ورته ته

داڅه بې غیرتي شوه د ننګونو په هیواد کې

۱۳۷۳/۱۱/۲۲

د پنجرې بلبل

چاته ورشم ترې قربان شم چاته عید مبارک باد کړم
نذرانه کړم اوښکې چاته تیر وختونه چاته یاد کړم
نه هغه گل او گلشن شته نه هغه بنکلی چمن شته
نه هغه خوارزه یاران شته په لیدوئې چې زړه ښاد کړم
چاته څیرې گریوان یوسم چاته وژاړم په چغو
څوک ئې اوري څوک به ئې واوري چاته داد چاته فریاد کړم
نپوهیږم نه به پوه شم که هم پوه یم نپوهیږم
چا داهسې رنگ ته خوار کړم چا داهسې رنگ برباد کړم
د زړه عرسه ولړزیږه په دوعامې آمین وکړه
شه هم داسې رنگ نابناده چې ئې زه داسې نا ښاد کړم
چې د غرو سینې سوری کړې خپلې وینې په کې توی کړې
د شیرینې حورې مینې ! زه به څوک درته فرهاد کړم
گله ! مانه لاس بردار شه بل بلبل گوره په بن کې
زه صیاد بند کړم پنجره کې ځان به څنگه ترې آزاد کړم
آب او تاب ته د وجود مې په حیرت پلک اوسندان دی
د بستم د اور بتې ئې آب د دیده لکه پولاد کړم

۱۳۷٤/۲/۲۰

د لوی اختر اوله ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سبا د امید ستوری

د سبا د امید ستوری داسې ورک دی په تیارو کې

لکه ورک چې د چا لعل شي د وختونو په ایرو کې

د وحشت ګریوانه تاکې به تنې روغه پرې نه بردم

د جنون جذبه مې شته لادې کمزورو شان پنجو کې

د وجود د غره هرپاڼ مې انګازه د چا د عشق ده

نامعلومه فریاد اورم د انګیو په ناروکې

د لتون شانه د ستر ګو په بنو کې پسې ګرځم

مسا پر زړه مې ورک شوی د خوبانو په کمښو کې

ما په ژبه رخصت ورکړ خو خبر د ستر ګو نه وم

راشه کینه ګرانه مه ځه د باران په دې شیبو کې

د کنعان د ګریوان اوښکې د لیدو ستر ګې پیدا کړه

د بنکلا یوسف روان دی د کاروان خپرو ګردو کې

ګونګوسه ده په ګلشن کې یو ګل بل ته غږ کې وایي

مزه نشته هیڅ د حسن دی بې قدره پسرلو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای طبیبه ! زه به کوم یو درته وایم خپله پوه شه

شته هزار دردونه پټ مې د پرهر په خندیدو کې

خپله یې هم په سر اوربل دی ګریوان تر په سپینو اوښکو

دالیدلې شمعې څه دي د پتنګ په سوزیدو کې

مینې جوړ آتش نفس کړم سینه ډکه د سره اوره

سمندر غوندې مې ژوند دې د اورونو په لمبو کې

که بلبل د سبا چوپ دی خو نغمو کې تیر ارمان یې

لکه بوی هسې خورشوی د ګلونو په ورمو کې

څو ورځې د عشق جهان وي او ژوندی په کې انسان وي

د حافظ غزل به اوري د پیړیو په اوږدو کې

۱۳۷٤/۳/۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینې زور

هسې زورمې په زړه کړی مینې ستا
عقل هوش را څخه وړی مینې ستا

راز رغون مې شود زړه په کرونده کې
چې کرلی په کې زړی مینې ستا

ساه مې سوزي نور قدم اخستی نه شم
کرم په ډیرو مندو ستړی مینې ستا

هرې خواته مې چې بیایي ورسره ځم
اچولی راکې پرې مینې ستا

بندوبست مې د کفن دفن په کار دی
رانه جور کړ بیخي مړی مینی ستا

یوه زه نه یم چې یې هسې قول او زول کړم
په دارنګ کړ تول وګړی مینې ستا

د «حافظ» په سر ئې توړې خاوری باد کړې
چې غماز کړو منځګړی مینې ستا

۱۳۷٤/۳/۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما دردونه

هغه دردونه چې پر ما تیریږي

مینه کې کله پربل چا تیریږي

عمر روان جوړه د باد څپه ده

لکه د نن هسې سبا تیریږي

ستا د وفا کیسه به پاتې وي تل

نه پاتې کیږي دا دنیا تیریږي

څوچې ځګر وربانديې نه کړي ستي

پروانه کله له رنا تیریږي

پرتادې یې سیوری قدر هم ونه شي

خیر که پر ماهره بلا تیریږي

زما پر زړه باندې به څه تیریږي

چې رقیبان دا ستا پر خوا تیریږي

آزار به واخلي د حافظ د مینې

ستاله کوڅې چې بینوا تیریږي

۱۳۷۵/٤/۲

د ارمان غوتی

د جـــانان د کـــور د یوه په بلیـــدو ده
دم ســـاعت د هجـــران شـــپـــه تیـــریدو ده
د پامـــیـــرد غـــره له څـــوکې به شيْ هسکه
پښتـــنه شـــمله مې بیـــا په جگیـــدو ده.
ارمـــاني بلبله راشـــه ورنه ځـــار شـــه
د ارمـــان غـــوتی مـــوسکی په غـــوړیدو ده
چې آزار یې دی زمـــا د زړه اخـــیـــســـتی
زمـــــانه سلـگـی وهي په ژړیدو ده
د گـــود ر منگی باته کـــره گلې راشـــه
مـــازدیگر شـــو د لمر ســـتـــرگـــه په لویدو ده
ســـمندر ورته زمـــا د اوښکو جـــور شـــو
د رقـــیبْ د ژوند کـــښـــتی په ډوبیـــدو ده
چې به شـــپـــه د مـــینا نو په کې نه شـــوه
د هغـــه کلي کـــوڅـــه په ورانیـــدو ده
د بیلتـــون ترخې شـــیـــبې به مـــو خـــوږې کـــړي
د وصـــال خـــوږه ورځـــه په لگیـــدو ده
بیـــا به شي پکې تپې د مـــینې مـــســـتې
عـــشـــقـــه! ســـتـــا ورانه دیره په جـــوړیدو ده
۱۳۷۵/۶/۶

د رحمن بابا په پیروی

یو تپوس

شنې زر غـــاراتو کـــيـــدلي دي کـــه نه دي
خـــو بروبان پرې لوبيـــدلي دي کـــه نه دي
چې د وخت خـــزان شـــرلي و بهـــاره!
بلبـــلان بيـــرته راغبلي دي کـــه نه دي
د ګلشن مـــاليـــاره وايه لتـــا ځـــار شم
ســـرې غـــوتې دې غـــوړيدلي دي کـــه نه دي
د پســـرلي په نشـــه مســـتـــولـــيـــو نيـــو
ګـــريوانو نه مـــوښـــيـــرلي دي کـــه نه دي
چې به تل د بيلتـــانـــه په ژړا ســـرې وې
هغـــه ســـتـــرګې خنديدلي دي کـــه نه دي
هغـــه ژړونه چې ويده د مـــرګ په خـــوب و
په ســـينو کې تخنيـــدلي دي کـــه نه دي
کـــتـــارونه خـــړې زانې مـــهـــاجـــرې
په فـــضـــا کې نښـــيـــدلي دي کـــه نه دي
د رحـــمن له لاله زار حـــافظ خـــبـــر کـــړئ
چې اورونـــه يې کـــرلي دي کـــه نه دي

۱۳۷۶/۱/۲۰
جلال آباد د نارنج ګل

د لوړو غرو په څوکو

ستا تر درشله به درځمه د بنو په څوکو

که جوړه لاروي ستا تر کوره د چړو په څوکو

قدم قدم کې مې د ستر گو فرش هواردی درته

ته چې له خیاله پرې را درومې د پنو په څوکو

یوه له درده ډکه څړیکه مې په زړه شوه خپره

چې شړک دې را کړلو ما خوارته د کوڅو په څوکو

پام تیرمې نه وځې د سر او مخ په سپینو ډکو

واورې وریږي تل مو دام د لوړ غرو په څوکو

چغه د حق به پټه نه کړم که په خوله مې راشي

ویروی څله ما منصور د غر غروپه څوکو

چې ایره کیږي چوپه خوله اواز یې نه جګیږي

دا پتنګان دي چې سوزیږي د لمبو په څوکو

نه ده خوشبویه شا او خوا د نوبهار په ګلو

ستا د وربل عطر خپریږي د وړمو په څوکو

طبیبه! خیر که ملهم نه راوړي پتمی نه راوړي

مالګي مې څله د وړوې د پرهرو په څوکو

د وخت آدم د خپل کرم په لاسو پاکې کړلې

خاورې پرتې وې د درخو د اننګو په څوکو

نه یم خبر چې به سکون په کوم مقام ومومي

د ژوند بیړی مې توپاني شوه د څپو په څوکو

لکه غونچه د ناز له خوبه ستر ګي وغړوه

لمر د رته ږدي د تندي خال د پلوشو په څوکو

له کومې وینې رنګ اخستی د چمن ګلونو

زړه د بلبل دی سوری شوی د اغزو په څوکو

زړه مې د خیال وزرې وکړې د حجاز په طرف

ګرځي د مینې د حرم د مینارو په څوکو

تر اوسه مړندی په مینه کې ژوندی دی «حافظ»

غلیل غلیل سینه د عشق د مردکو په څوکو

۱۳۷۶//.۲/۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګلونو محفل

محفل ګل ساقي ګل رنګ په لاس کې جام ګل
نازیې ګل مکیز یې ګل ادا خرام ګل
په کوم کور چې ګل واته ننواته کړي
دریې ګل دیوار یې ګل کوڅه او بام ګل
چې ګل مخی ګل صفته په کې اوسي
په هغه مالت وریږي صبح و شام ګل
مطرب ګل ، سرود یې ګل نغمه یې ګل وي
شمع ګل ، پروانه ګل پاخه او خام ګل
د رنجور د خال دانه ورلاندې کیږدی
چې د مخ لپاسه خورکړي زلفې دام ګل
د خوبۍ مثال یې نشته په عالم کې
رب جورکړی دی په خپل قدرت تمام ګل
ګل هغه چې یې صفت وارې د ګل وي
خوک به څه کړي هغه ګل چې وي په نام ګل
ګلرو خان چې سیل ته ووځي د ګلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرئي ښکته کړي په هر قدم او ګام ګل
يار مې ګل ربيعار مې ګل زه ګل پرست يم
ځواب ګل ، وعده يې ګل ده هر پيغام ګل
خوله يې ګل ، سترګې يې ګل بار خويې ګل دي
چا لپاره يې ساتلي دي انعام ګل
ګل قاصده ! چې د ګلو ښارته درومي
ګل ته وړه زماله خوا دوعا سلام ګل
زه به ګل غوندې پرې ولې نه غوريږم
خندا ګل موسکائې ګل هم يې کلام ګل
نيوهيږم دا به فيض د کوم بهار وي
ستاد چم په باغ او ښې کې وي مودام ګل
ګل بدنه ستاد سيمې ګل کڅوکې
غوريدلی دی د خاصو سره عام ګل
ورپسې به خود ګلونه اقتدا کړي
مسجد ګل ، محراب يې ګل په کې امام ګل
د حافظ د زړه د ګل بلبله راشه
هر کلی ته دی ولاړ په احترام ګل

۱۳۷۶/۱۰/۱۹
کابل تايمني کور

د وصال شپه

د وصال شپه ده ترسحره ډيو بله پريږده
د ديدنونو بختوره ډيوه بله پريږده

چې پتنګ وسوزي بلبلې پرې نغمې ووايي
د زلفو کورکې معطره ډيوه بله پريږده

زړه مې لانه دی پوره مور په نظاره د حسن
خواست مې قبول کړه د زړه سره ډيوه بله پريږده

چې درته وکړمه يوځو د دلداری خبرې
زما خيالي ښکلې دلبره ډيوه بله پريږده

ستا د ښکلا افسانه ورو په وراورد يږي پسې
د ټولو ښکلو مخوره ډيوه بله پريږده

لوګي اوګي به کړم لتانه سپيلنې د سترګو
الله دې مکړه له نظره ډيوه بله پريږده

ماوې چې زه به لنډوم درته د عشق غمونه
داکيسه نه شوه مختصره ډيوه بله پريږده

چې په محراب د وروځو ستا د سجدو وار نشته دی
د قدر شپه ده رادبره ډيوه بله پريږده

که لږ تياره شوه درندانو بد مستی ته ګوره
د بزم ميره معتبره ډيوه بله پريږده

مقام د حال کې تل د قال ژبه ګونګی پاتې وي
د خوار «حافظ» په حال خبره ډيوه بله پريږده

۱۳۷۶/۱۱/۲
حيات آباد پيښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې دنيا جنت

وروستی وخت وروستی دیدن دی کـــه رائي

ګـــــرانه وخت د ځنکدن دی کـــــه رائي

په ځیر ځیر ستا د راتلو لارې ته ګوري

ستر ګي ستر ګي مې بدن دی کـــه رائي

چې په ګلو به ئې شـــــورو د بلبلو

اوس خـــزان هغـــه چمن دی کـــه رائي

چې به شـــول په کې د مـــینې مـــجلســـونه

تس نس هغـــه انجـــمن دی کـــه رائي

بې لتـــا مې داسې حـــال دی کـــه یې پوښـــتې

په ســـره اور کې کـــریدن دی کـــه رائي

چې به مـــا پردې دنیـــا جنت بللو

دوزخ شـــــوی مې وطن دی کـــــه رائي

۱۳۷۶/۱۲/۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور قله

د دنيا غمونه سيند باندې لاهو کړه
ځان ملنګ کړه د جانان په درکې هوکړه
چې د عشق د بندګۍ طوق دی روزې شي
د فاختې غوندې ځان سترې په کوکو کړه
دوګانه دې چې قبول يګانه رب کړي
د خپل زړه په وينو تل تازه وضۍ کړه
د غماز د بدو ستر ګو که ځان ژغورې
څلور قله هرسبا د رباندې پۍ کړه
که مطلب دې د جنت د حورو خوند وي
د دنيا د زړې کوندې په مخ توکړه
چې جهان يې په حيرت تللی بنکلا ته
د سر لاندې د هغې بنکلې ماهو کړه
د وحدت دُر او مرجان چې کړي ترلاسه
نو د اوبنکو په درياب کې ځان مانو کړه
نفس شيطان درپسې ګرځي خبردار شه
د تقوی سنګر کې ځان ورته قابو کړه
د موسی د امسأ راز معلوم کړه ځان ته
بې اثره د فرعون سحر او جادو کړه
تار د حورو د جنت له زلفو راوړه
د حافظ د زړګي زخم پرې رفو کړه

۱۳۷۷/۲/۱۳
کور تايمني کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیوکی

عشقه پسرلی شوم ورندی دی کړم
بنه شیبه باران یم شرندی دی کړم
خال دې د ابرو په منځ کې کښېنودم
غشی شوم لینده کې شغندی دی کړم
مړومه سلګی د زنکدن مې وې
ګرانه مسیحا شوې را ژوندی دی کړم
تامې د ګریوان تارونه ونغړل
غاړې د جنون ته غړوندی دی کړم
هسې په نری شمال به ورژم
ګل دې د ریدې کړم رپندی دی کړم
تاچې د نظر غشي راوویشتل
لاغړ څه د غرونو ترهندی دی کړم
واړه کرامات د حسن خپل ګنه
شوم هغه زیارت چې رسندی دی کړم
تورد تورو زلفو دې راپورې شو
توریې چې وې بخت هغه تندی دی کړم
خیر که د مالي منت دې واخستو
زیب دې د وربل شومه جُندی دی کړم
تل به دې حافظ د بنکلا پاتې شم
ګلې! که پیوکی کې ځوندی دی کړم
۱۳۷۷/۱۱/٦

منصوري هوډ

قربان دې شم له ستر ګو چې جامونه چپه نه کړې
زما د خوارې مینې اُمیدونه چپه نه کړې
راغلې مې د زړه په ورشو سخته وچکالي
باران د دیدن راوړه خو وخونه چپه نه کړې
ترهغو به یوپل نه میکدې نه کړم بهر
ترڅو مې چې ساقي په سرخمونه چپه نکړې
د ډیرو ککرې به په کې ووهي تالونه
زما منصوري هوډه کې دارونه چپه نه کړې
د حُسن چنګیزي لښکره بویه احتیاط
د زړه په غلغله کې مې تختونه چپه نه کړې
فرهاده ! زه دې نه منم د عشق پهلواني
ترهغو چې پربل مخ دا لوی غرونه چپه نه کړې
امعبد ته هم نشه کې د وحدت راغلې آشنا
واعظ خو دې چپه کړو ممبرونه چپه نه کړې
حافظ به درته ووایی اتل د عشق په څه
کې چیرته د اغیارو سنګرونه چپه نه کړې

۱۳۷۷/۱۱/۱۳

کابل تایمني کور

د لمر لمنه

مـــازدیګر دی ځـــمـــه لار دګـــو درنیـــسم

د پیـــغـــور د تورو وار ته ئې ســـر نیـــسم
زمـــا ژوند دې ورنه ځـــارشي چې خـــوښـــیـــږي
د بنـــو غـــشي یې ټول په ټټـــر نیـــسم
کـــه ولې د شـــودوشـــا تو کې راســـمې
شنډه ونه شـــومـــه کله ثـمـــر نیـــسم
چې آبـاد دې کـــرم د عـــشق عـــمـــارتونه
نـن ســـبـــا ورته د مـــینې اشر نیـــسم
د لاویز عطر به راوړي ســـتـــا د زلفـــو
ســتـــا د ســـیـــمې له نسـیـــمـــه خـبـــر نیـــسم
چې دې خـیـــال ســـاتم د ســـرو شـــوندو په زړه کې
«ګـــویا داچې په پنیه کې شـــرر نیـــسم»
چې یې بیـل نشم د حـــســن له مـــرکـــزه
د ذرې پـــه دود لمـنـه د لمـر نیـــــــــسم
زړه مې تور د تورو شـــپـــو تورو تیـــارو کـــړ
د رنړا د راتلو لار د ســـحـــــر نیـــــسم
خـــوږ ځـــواب قـــاصـــد راوړی دی له یاره
چې حـــافظ په مـــخـــرم کې اخـــتـــر نیـــسم
۱۳۷۷/۱۱/۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نظر براق

چې راپورې دې شـــو تور د تورو ســـتـــرگـــو

هله پوه شـــومـــه په زور د تورو ســـتـــرگـــو

د هوسې په شـــان به ئې خـــوب په مـــنـــيـــر تون وې

پاتې مـــه شـــه په چا پور د تورو ســـتـــرگـــو

د بنـــو نيـــزوکې زړه وړی له گـــوگله

د نظر په براق ســـپـــور د تورو ســـتـــرگـــو

تـاريـکـو کـې د ژونـدون اوبـه مـــــونـدے شـي

کـه ځـای راکـړی يار په کـور د تورو سـتـرگـو

د رنجـــوپه څـــيـــربـه دوړه ايره پـايـي

چې کـــوم زړه ســـوی په اور د تورو ســـتـــرگـــو

«په کې صـــيـــد کـــړي د حـــرم د غـــزالانو»

د نظر دام چې کـــړي خـــور د تورو ســـتـــرگـــو

ورځ تـــر ورځـــې ئـــې بـــازار پـــســـې تـــوديـــږي

صـــفـت نه کـــوومـــه نور د تورو ســـتـــرگـــو

زه «حـــــافـظ» چې د بنکلا په بـازار راغـلـم

په کې جـــوړ ؤ عـــجب شـــور د تورو ســـتـــرگـــو

۱۳۷۷/۱۱/۱۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حُسن عرش

د بندګی کړی مې غوږ کې شوه غلام وختم
د حسن میره بخت مې ګوره ستا په نام وختم

که شوم وړه لکه رانجه د تندي خال دې شومه
عرش ته د حسن دې اشنا په یوه ګام وختم

د عشق کلال خپله پجه کې راته ځای رانه کړ
په اور د مینې کې لاپوخ نه یمه خام وختم

له هرې خوا راباندې راغلې د تیارو لښکرې
د سبا ستوری وم بې وخته په مانښام وختم

رانه اداب د محفل هیرشو ساقي عفوه غواړم
له ډیرې بیړې وارخطأ په سر د جام وختم

کامیابي مې د دنیا په امتحان کې نشته
په ازمینه کې د مینې چې ناکام وختم

داچې له غیبې مې د عطرو قافلې باریږي
لکه پروته دې د قد په ګل اندام وختم

غمازه ! ستا د بدو ستر ګو د محک په قیاس
د یار حضور کې شوم سره زر عیار تمام وختم

چې اقتدأ مې په محراب د کږو وروځو وکړه
«حافظ» د مینې مقتدي وم امام وختم

۱۳۷۷/۱۱/۲۸

د دانګی چینه

په لتـــه بند د زړه مې کـــډې د جـــانان تیـــریږي
ځي د ایلبند په لور کـتـار کـتـار اوښـان تیـــریږي
تورې کـــیـــــږدی د دانـه ګی په چینـه ودریدې
د اوبـو ژی پـه اوږو ایـنبـی ګلرخـــان تیـــــریږی
ورته ریـنبې ریـنبې ګـریـوان د مـجنون لاره نیـــسي
د ســحـــر خـړه کې لیـلا راغـله کـاروان تیـــریږي
ســبـــا بلبلو په نغـــمـــو کې داسې ویلې ســـره
بنکلی بهـاردی زاروان سـپـیـره خـزان تیـــریږي
عـــشـــقـــه ! له دې نه به هم بله مـــرتبـــه وي لوړه
چې د مـیـږي په کـور د حـسن سلیـمـان تیـــریږي
داخـــو نیـــولی د بنکلا وډیو وګل په ســـرو
هسې په څنګ چې تړې د حـسن پتنګان تیـــریږي
غـمـازه ! ته تړې څه خـبـر یې ته پرې نه یې سـوی
کـومـه لمبـه چې د بیلتـون زمـا په ځـان تیـریږي
کـچکول د سـتـرګـو کې ورواچوه خـیـرات د دیدن
ګلې ! کـوځـه کې دې د مـیـنې ملنګان تیـــریږي
د خـدای کـلام کې ورنه څه بنکلې کـیـســه جـوړیده
څوک څه خـبـر چې څه کـوهی کې د کنعـمان تیـریږي
څوک یې په کـانو ولې څوک مسـخـرې پرې کـوي
«حافظ» په دغه مالت بیـا څیـرې ګریوان تیـریږي
۱۳۷۷/۳/۱۳

ګنډيري ګلونه

د حسن ګل ته دې حيران ولاړ هک پک ګلونه
چيرته ګلاب ګلونه چيرته د زمبک ګلونه
ګلې ! چې ته به پرې راځي لکه ورځ مه د ګلو
شه هغه ځمکه هر قدم څپک څپک ګلونه
چې تش بنکالو دې د بنکلا ورته په غوږ کړه نسيم
له هرې خوا درته په بڼ کې شور اڅک ګلونه
ريباره ! تاوې ياربه راشي لا راغلی نه دی
په انتظار مې شود ستر ګو مړدمک ګلونه
دکه ځولی دروړم وربل ته د سپين غره له ګلو
څه ګنډيري ګلونه بنکلي څه مبنکک ګلونه
څه نمکي حسن درکړی پاک الله دی درته
ستاد ګل مخ سره پيداکړي لانمک ګلونه
داخو بورا دی چې د ژوند کورئې غونچې د ګلو
کله ليدای په رنا ورځ شي شوپرک ګلونه
حافظ چې ستاد حسن باغ ته هر سحر در درومي
کره کوي په کې د ستر ګو په مړحک ګلونه
۱۳۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حُسن باران

یوگل وم له گلونو گلستان کې به مې شپه وه
بهار کې به مې شپه وه په خزان کې به مې شپه وه
د مخ د لمر په وړانگو کې دې ورک اوبه اوبه شوم
رونې ستوری د آسمان وم کهکشان کې به مې شپه وه
سهار به د بلبلو په نغمو راجگیدم
د تورو تورو زلفو شبستان کې به مې شپه وه
جنونه ستا وحشت زړه کې پیدا کړ داسکون
وحشیان به راته رام ؤ بیابان کې به مې شپه وه
بنکلا د طبیعت به کړه هردم نور افشاني
لوند لوند به وم د حسن په باران کې به مې شپه وه
نه غم د بیلتانه ؤ او نه فکر د هجران
د وصل په بنا یسته بنکلي مکان کې به مې شپه وه
ماشوم غوندې مې لوبې ستا خالونو سره کړې
نتکی کې به مې شپه وه په پیزوان کې به مې شپه وه
وړمه وم هر سهار به دې له څنو خپریدم
سنبل کې به مې شپه وه په ریحان کې به مې شپه وه
نسیم د صبحدم به نازولم تخنولم
امیل وم به غاړه د جانان کې به مې شپه وه
په کوم نظر چې اوس «حافظ» ته گورې داسی نه ووم
تنې غوندې د بنکلو په گریوان کې به مې شپه وه

۱۳۷۸ / ۲ / ۲٤

د سبا ستوری

د تورو ستر گو غم په سر واخستم

لکه نشه ئې په ساغر واخستم

شود زړه بدر مې د تندر په حال

نن یې چې تول په خپل نظر واخستم

شوم ئې له سر د قربانئ گډوری

زه لر ولاړوم خو ده بر واخستم

د سبا ستوری وم اوس بل څه شومه

ذره ذره د حسن نمر واخستم

چې هر یو غر مې راغبر گیرې په غوږ

لکه انگی په غیږ کې غرو اخستم

«حافظ» به اوس پدې کې څه ووایم

تاچې د مینې په هنر واخستم

۱۳۷۸/۲/۲۵

کابل تایمنې کور

د پنجرې دروازې

ته چې لاړې زه دې پرېښودم يوازې
را په مخ شوې د دنيا د مخ ناسازې
بلبل وارد ګل په هجر شور فرياد کړم
د پنجرې دروازې نه شوې راته وازې
دې مالت کې زړه سوی نشته په ويرژنو
ستا کوڅې ته مې راځي اوښکې استازې
پام چې مخ دې بنکاره نه کړې د سالونه
پيدا شوې بدې سترګې نظربازې
ښاپيرۍ د چين ماچين مې هم کتلې
ستا په څير نشته اوږدې زلفې درازې
حيرانيږم دې دستور د زمانې ته
چې په مينه اشارې بولي غمازې
«حافظ» پوه شومه په راز د دوارو کونو
چې مې سترګې ستا د سترګو شوې همرازې

۱۳۷۸/۲/۲۸

کابل تايمني کور

د ځواني مرګی منګی

په چغو او په کوکو دې په وروژړیدم
په لړوژړیدم او هم په بر وژړیدم
قربان دې له درباره شم دربان مې شو مانع
حضور ته دې درتلی نشم بهر وژړیدم
بلبل سره د مینې په دستور کې یم شریک
د ګل په پانه پرخه د سحر وژړیدم
دنیا راسره ژاړي خو یو یار راسره نه
نغمه د مات رباب شوم په هنر وژړیدم
د حُسن مازدیګر می کړو په خپلو اوښکو ډوب
منګی د ځواني مرګې په ګودر وژړیدم
راوړې مې له سپین غره ځولی تشه د مراد
په خړو خړوغرونو د خیبر وژړیدم
هیڅ رحم ئې رانه غی دې کلک زړه کې په «حافظ»
هرڅومره که په مخکې د دلبر وژړیدم

۱۳۷۸/۳/۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپیره منگی

بیگاه په خوب کې مې دلبر په غیږ کې سر اینبی ؤ
ځکه مې سر له اسمانونو څخه بر اینبی ؤ
اوس د خپل سر په قدر یاره پوهیدلی نه شم
سرخو ؤ هلته چې مې کله ستا په در اینبی ؤ
د ګلو تاج به مې ګنلو پرې ستومانه نه وم
چې مې د سر لپاسه ستا د غمو غر اینبی ؤ
د ناز په نیم نظر دې زه څنګه بیدله کړمه
دادې په ستر ګو کې جانانه څه هنر اینبی ؤ
ته چې په دا قدو بالا د باغ په لورې لاړې
سردې پښو کې درته سرو صنوبر اینبی ؤ
وخته د خاورو سره خاورې شوه د نجونو میره
سپیره منګی یې لا تراوسه په ګودر اینبی ؤ
ماوې د بد نظر اثر به درنه کړه وکړې
سپیلنی زړه مې ستا د عشق په مجمر اینبی ؤ
«حافظ» به ټوله شپه د ستا د یادو ذکر کاؤ
غوږ به یې تل په غږ د الله اکبر اینبی ؤ

۱۳۷۸/۳/۱۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کرم امسا

پریوتم د زړه له زوره پریوتم

عشقه ! ستا له مسته شوره پریوتم

لړ د لونګین نه دی خطا شومه

لاس راکړه هله ګوره پریوتم

حُسنه ! ستا د خیال د دنګو غرو په لار

برنشم خټی نسکوره پریوتم

شور فریاد مې واوره د جنون دښتې

ستا په لمن څه بې کوره پریوتم

راکړه د کرم امسا چې پورته شم

راشه ای زما غمخوره پریوتم

تورد ستر ګو سپین مې ستا په یاد وشوې

ای زما د ستر ګو توره پریوتم

جورچې د حافظ د عشق جهان نه شو

دا دنیا کړه ورانه نوره پریوتم

۱۳۷۸/۳/۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سترګو مسیحا

که داغونه مې د زړه ګورې راځه
آینه کې ځان ته څه ګورې راځه
روح مې تللی ستا د یادو هدیرې ته
که ما خوار غریب ته ښه ګورې راځه
چې باران د پشه کال ورته حیران دی
که د اوښکو وریده ګورې راځه
دود یې خیرې ایرې کیرې پتنګان دي
په ډیوه که سوزیده ګورې راځه
شهادت یې مبارک شه ستا د سترګو
په زړه خښ دې که بانه ګورې راځه
لاس دې راکړه سترګې پنې کړه بیا ګوره
که ترعرشه رسیده ګورې راځه
ستا د شوندو خوږلنې د پرې غالبه
خیر که سترګو کې ترخه ګورې راځه
ستا د سترګو مسیحا ته په کاته دي
که د عشق په تبه مړه ګورې راځه
که قبوله مې دُعاشي ګرانه یاره
بده ورځ په ژوند و مه ګورې راځه

۱۳۷۸/۳/۲۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنځورې ته

چې دې وچو سپيرو شوندو ته نظر کړم

ګلې وايه ! چې زه څه خاورې په سر کړم
که زما په وينو ستا د خوږ علاج شي
چاړه واخله چې د زړه وينې مې درکړم
چې خالي دې اوښکې وګرځي په ستر ګو
نو ګريوان له غمه زه په اوښکو ترکړم
که د مرګ پرښته چيرته پرې راضي شي
زه به ساه د ستا د ساه په بدل ورکړم
که ته نه يې راز به ستا د مينې فاش کړم
زه به ټول عالم په دې مينه خبر کړم
نا معلومه در ددې خورې د صورت وينه
په وينا به د طبيب څنګه باور کړم
زما عشقه ستا له ځوره به څه وايم
زه دې څنګه په ژوندونې درپه درکړم
که ډيوه ستا د جمال شی چيرته بله
د پتنګ غوندی به زړه پرې خاکستر کړم
حافظ ستا دروغ صورت ارمان وړې ګورته
خاورو لاندی به هم ستا لورته نظر کړم

۱۳۷۸/۳/۲۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګلو کر

د ګلو کـــــرته مې د ربو له چې ګـــــلان وکـــــرو

څـــو امـــیلونه چې په غـــاړه د جـــانان وکـــرو

خیردی که کال سوکړه راغلی اسمان زړه کلک کړي

د زړونـو للمـــــه بـه د اوښکو په باران وکـــــرو

چې د توپان د لیـــونو مـــوجـــونه ونه ډارشي

د قـــوبچی به په څـــپـــوکې د ګـــریوان وکـــرو

کټ او پیـــروني به تري جـــوړشي تلې هم ورســـره

راشـه د اوښکو یوځـو سـتـوري په اسـمـان وکـرو

ګـوندې دمـه ئې شي په سـیـوري څـوبې دمـه زړونه

د رحـم زړي بـه پـه زړه کې د انســـــان وکـــــرو

چې ډک خـمـــان راته ولاړوي د کـــاله په غـــولي

یوځـوتاکـــونه بـه په کـــورکې د مـــغـــان وکـــرو

یولاله زار بـه ورنه جـــوړشي د بهـــار په مـــوسم

د زړه داغـــونه کـــه د عـــشق په بیـــابان وکـــرو

چې د راتلو هرپل ئې ســـتـــرګـــوته دا ویاړ ویښي

حـــافظه راشـــه چې په لارکې ئې چشـــمـــان وکـــرو

۱۳۷۸/۵/۷

غلچکی خال

د وروځو خال ئې غلچکی د زړونو لارې وهي

څوک چې تالاشي هره خوا چغې کوکارې وهي
حُسنه ! ځلادې یو په څوشوه د بهار په موسم
څنو وربل کې چې گلونه پرې وارې وهی
ساعت گړی ته مې د عمر تغر تول وگنه
د ژوندون پانگه مې غمونه وار په وارې وهي
ځمکه فضا د بیلتانه ماتم په سر اخستی
دلته زه ژاړم په هوا زانې چیغارې وهي
چیرته سیلاب او چیرته توی چې په گریوان بهیږي
دامې د سترگو له اسمانه اوښکې دارې وهي
د زړه پرهرمې شو زولن ناسور به جوړشي ورنه
کاږه بانه دې شیبه دم په کې نوکارې وهي
زاري جگی دي لاس د چا زنې پښې ښکلوي
دولت د حُسن بیا د کومې یوې خوارې وهي
چې یې له سترگونه د ستورو تښتولی دی خوب
دا خو حافظ کړیکې له درده د ناچارې وهي

۱۳۷۸/۵/۲۳

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تندر توره

د تندر توره چې د وريځو په لښکر ووته
ناره د فتح د مستانو له سنګر ووته

د زړه په فصل مې تنها د ولي تیره شوله
داسې ئې وسوم چې مې سره لمبه له سر ووته

د تورو شپو تیارو په غیږ کې پوره ځبینبلم
بس دغه چغه مې له خولې نه په سحر ووته

رنګین بازار ئې د همزولو په ګودر کې جوړ کړ
د نجونو میره چې له کوره مازدیګر ووته

چې د بنو نیزې ئې ما پلو راواړولې
ماوې سینې ځنې مې څوکه د خنجر ووته

روحه! چې ته مې له نظره شوې پنا د سترګو
ساه مې وزرونه ورته ګوره د نظر ووته

د زړه ملوک مې د کلونو ما پرشو پسې
بدری د حُسن چې ارم نه په سفر ووته

نن د ساقي د مستو ستر ګو اثر دومره زیات شو
ستا بد مستي شرابه څه شوه په کوم ور ووته

حافظه غلاته دې د زړه د کور راغلې وه څوک
پرې خبر نه شوې بنا پیرۍ وه په هنر ووته

۱۳۷۸/۶/۱۷

ACKU

مات ستوري

دچا دمـــــينې دیادونو قـــافلو ســـــره ځم

ســحره ! ستـا دمـاتو ستـور و بدرګـو سـره ځم

یوه شـیـبـه نیـمـه بـه یم دمـه دیار په رخـسـار

لکه شـــبنم په ګل د نمر دراخـــتـــو ســـره ځم

دســـفـــر غـــوتې مې ترلې داشنا کلي ته

ځم روانـیـــږم دبلبلو د نغـــمـــو ســـره ځم

لکه دشـــمـــعې بلووم په سـر لمبـه دمـــینې

تورې تیـــارې رنا کـــوومـــه دډیوو ســـره ځم

دخـــوښۍ ناوې مې یوه په کـــور دننه نه شـــوه

زه به ترڅـــو ددې نیـــمـــزالوجنازو ســـره ځم

کـــه راپخـــلا مـــرور یار شي په مـــوسکاشي راته

دخـپلو ترمـــو اوښکو دجـرګـو ســره ځم

مالیـاره ! پام ستر ګې درنې نه کړې ګلچین نه یمه

وږمـــه وږمـــه یمـــه روانه دغـــونچـــو ســـره ځم

حافظ (حافظ) یم پاتې شوی حسنه ! ستا په درګاه

کـه چیـرته ځم حسـنه ! هم ستـا په اشـارو سـره ځم

۱۳۷۸/۵/۲۹

PROPERTY OF ACKU 8708

(c) ketabton.com: The Digital Library

رنګين مانبام

حسن دې ښکلا ده څه رنګين غوندې مانبام دی
وګوره آسمان ته دسپوږمۍ يې لاس کې جام دی
ګرځي صراحي په لاس ښکالود ښاپيرو اورم
دلته غني پروت دی سرته ناست ورته خيام دی
هرې خواته دلته کې تسبيح د پرښتو رائي
وينم په حساب کيږي سجود دی که قيام دی
پيري په سپنږسيو د کنعان د حسن ګل پيري
خدايه دا د حسن څه وړيا شانتې ليلام دی
تل چې تري د مينې طوافونه شپه او ورځې شي
دا جوړه کعبه ده او که ستا د کاله بام دی
ناز د آسمان ستوري هم د ښکلو په ليمو مني
تا ښايست ورکړی چې په خپل قدرت تمام دی
ټول قضا لمونځونه به دې وشي پسې نيت کوه
صف و روځې بانه يې مقتديان خال يې امام دی
پوخ يې کړه لا پوخ نه دی حافظ په اور د مينې کې
اوس هم لا په سپينه ږيره ستا په مينه خام دی.

۱۳۷۸/۷/۵

JIRA

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شاعر چاپ شوي آثار :

۱- دنغمو کاروان (دشعرو نو ټولو نه) ۱۳۵٦ کال .
۲- دشمشاد له هسکې څوکې (دشعرو نوټولګه) ۱۳٦۲ کال .
۳- ستا دچم ګلونه (د غزاوټولګه) ۱۳٦۵ کال .
٤- تاترې (دنظمو نو ټولګه) ۱۳٦٦ کال .
۵- دردونه او تکلونه (دشعرونو ټولګه) ۱۳٦۹ کال .
٦- مات ستوري (همدا ټولګه) ۱۳۷۸ کال .
۷- د اتم ټولګي لپاره د تاریخ ژباړه ۱۳٤۲ .

دشاعر ناچاپ آثار :

۱- دباچا خان په باب نظمونه .
۲- دسولې په باب نظمونه .
۳- زما ترانې د (زړو په شا و خواکې) دتصنیفونو ټولګه .
٤- دنړۍ د ادبیاتو دشاهکارونو کیسې (ژباړه).
۵- دنړۍ دمشهور شاعرانو شعرونه (ژباړه) .
٦- د نړۍ ویوه ټولګه .
۷- دحق پتنګان : دینې لیکنې چې وخت په وخت د رادیو له لارې خپرې شوې دي
۸- سهارنۍ نذرانې : دینې لیکنې ، د رادیو لپاره .
۹- دلندو کیسو یوه ټولګه .
۱۰- ویرینې اوستاینې نظمونه .

PROPERTY OF ARIC Established 1978

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې – جرمني

خپاره کړي آثار

۱ - څيړې ګړېوان، عبدالوهاب سرتېر.
۲ - سيندونه هم مري، اسحاق ننګيال.
۳ - پښتانه (پټانز)، اولف کارو.
۴ - دويمه سقاوي، سمسورافغان.
۵ - په افغانستان کې توپان، غوث خيبري.
۶ - د شملې پېړۍ تر نمايي د افغانستان د بهرنيو اړيکو تاريخ، لودېك آډميك.
۷ - په افغانستان کې ربښتيا څه تېرېدل؟ الکساندر مايوروف.
۸ - د سيند پر غاړه، حبيب الله زړه سواند شينواری.
۹ - ګام پر ګام له خوشال سره، محمد آصف صميم.
۱۰ - مات ستوري، نصر الله حافظ.

د افغانستان دکلتوري ودې ټولنه - جرمني
VEREIN ZUR FÖRDERUNG DER AFGHANISCHEN KULTUR E.V
د خپرونو لړ (۱۰)

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library